شریعت

اونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك نشراتی ارگان

په مشكلاتو صبر وكړی اوتقوی كوی

لوي خداي «جل جلاله» فرمايلي دي: اي هغو كسانو چي ايمان يي راوړي دي (اي مؤمنانو!) صبر كوئ (په طاعت ، مصيبت اوله معصيته) اوټينگ اوسئ! په صبر (له دښمن سره په مقابله كښي) اومحكم اوسئ! (په اسلامي سرحدونوكي): او ويريږي له الله «جل جلاله» څخه ددي دپاره چي په مراد ورسيږي (بريالي شئ!).

(آل عمران - ۲۰۰)

په جگړه كی ثابت قدم اوسئ!

له حضرت عبدالله بن ابي اوفي رضي الله عنه څخه روايت دي چي دالله رسول ﴿ﷺ﴾ فرمايلي دي: « اي خلكو! له دښمن سره دمخامخ كيدلو(نښتي)تمنا مه كوي، له خداي «جل جلاله» څخه عافيت وغواړي. خو كله چي ورسره مخامخ شوي(جگړه ونښته) نو صبر كوي (ثابت قدم اوسي) په دي پوه شي چي جنت دتورو ترسيوري لاندي دي. »

(بخاري ، مسلم)

لومړی كال | پوځلويشتمه گڼه | دوشنبه د۱۳۷۵ هـ ش كال دميزان دمياشتي (۲۳) | د۱۹۹٦ميلادي كال اكتوبر (۱٤) | د۱٤۱۷هـ ق كال جمادي الثاني (۲)

په كنــــدهار كـــى دپراخى مظاهـــــرى په لـــړ كـــى:

ایران دی زموږ داسلامی اصولو توهین نه کوی اوديوه مسلمان گاونډی په توگه دی زموږ په كورنيو چارو كی لاس نه وهی

روسان دي په افغانستان كي دخپلي شرميدلي ماتي شپي ورځي نه هيروي اوبيا دي زمــوږ پــه كورنيـــو چارو كي له لاس وهني څخــه ډډه وكړي

دامـــريكا متحده ايالات اوملگري ملتونـــه دي پـر افغانـــانو باندي خپلي بشري مرستي نه بندوي

په افغانـــستان كي ديهرني لاس وهني پرخـلاف دښتي په ورځ دتلې په ۲۱ نېټه دكندهار په ښار كي يوه ستره مظاهره وشوه.

زموږ خبريال دكندهار له ښار څخه خبر راكوي چي په دي مظاهره كي لږ ترلږه پنځه ديرش زره كسانو برخه اخيـــستي وه چي په

شرعي لباس سنبالي زيات شمير ميرمني اوتنځوني هم پكي وې.

مظاهره كوونكي چي اسلامي شعارونه

ورسره او او دالله اكبر نارې يي وهلي دكندهار دښاريه بيلو بيلو برخو او ناحيو كي وگرځيدل دوي په افغانـــستان كي د روسانو ، هندوانو او

ايرانيانو هغه لاس وهني وغندلي چي زموږ دهيواد په كورنيو چارو كي يي په دوامداره اوبي شرمانه توگه كوي.

(٤) مخ

دسره صليب نړيواله كميته له مستحقو افغانانو سره مـرستي جاري ساتي

دسره صليب نړيواله كميته له بي وزلو اومستحقو افغانانو سره خپلو بشري مرستوته دوام وركوي.

دنړيوالو خبري خبرځايونو او منابعو دخبرله مخي ويل كيږي چي دسره صليب نړيوالي كميټي داكتوبر دمياشتي په لومړي اوونۍ كی ۷۹لاري چي ۱٤۰۰ ټنه خوراكي مواد ، دارو درمل اوشيږي پكي شاملي وي كابل ښارته رسولي دي.

دسره صليب نړيوالي كميټي دمنابعو په قول ويل كيږي چي دغه مواد به په كابل كي (۲۵۰۰۰) بي وزلو كورنيو او ۱۷۰۰تو معيوبينو باندي وويشل شي.

همدارنگه دسره صليب په خوراكي موادو بار يو كاروان به په همدي غرض باميانو ته وليږل شي چي هلته هم په مستحقينو باندي وويشل شي.

ددغي كميټي ديوه وياند دوينا له مخي پوهيښت په تخار اوبدخشان ته هم ولاړ شي چي په هغـــو ولايتـــونو كي هم دبي وزلو خلكو په اړه معلومـــات راټول كـــړي.

محترم مولوي جلال الدين «حقاني» له امريكا غږ سره په مركه كي:

دطالبانو په مقابل كي چي څوك كركه ښكاره كوي هغه دافغانستان په كورنيو چارو كي دلاس وهني معني لري

دیكښتيا اتل جهادي قوماندان الحاج مولوي جلال الدين «حقاني» دهيواد د روانو

حالاتو په اړه دامريكا غږ راديو له خبريال سره په مركه كي وويل په كابل كي د (٤) مخ

داطلاعاتو اوكلتور وزارت سرپرست اميرخان متقي له امريكا غږ-سره په مركه كي:

موږ غواړو چي په افغانستان كي يو سوچه اسلامي نظام رامنځ ته اومستحكم اسلامي حكومت جوړ شي

طالبان غواړي چي په افغانستان كښي يو اسلامي نظام راولي اويو مستحكم اسلامي

حكومت جوړ كړي اومختلفو خلقو سره وخت په وخت مفاهمي اوخبري اترې كيږدي اواوس

هم چي دشمال دځواكونو كوم هيئت چي دحضرت مجددي په شمول چي كابل ته روان

دي وگورو چي دخان سره څه راوړي، مگر طالبانو هغه قوتونوته چي كابل (٤) مخ

اصلاحي شورى په يوه اعلاميه كي وويل :

روسان كه بيا هم غواړي له يوه بل شرميدلي شكست سر مخامخ شي نو دغه شان لاس وهنو ته د دوام وركړي

اصلاحي شوري په يوه اعلاميه كي دطالبانو داسلامي تحريك دچټكو پرمختگو په ارتباط دروسانو دعكس العمل په اړه خپل ژور تاثر اوخپگان څرگند كړ او روسانو ته يي خبر داري وركړ چي كه بيا هم غواړي له يوه بل شرميدلي شكست سره مخامخ شي نودغه شان لاس وهنو ته دي دوام وركړي.

په دي اعلاميـــه كي دوي دراپرزيدلي حكومت له مشرانو څخه وغوښتل چي دملت غوښتني ته دي تسليم شي او دنورو زيانو ويتو تواېدو سبب دي نه گرځي، داځكه دوی بايد په دي اعتراف وكړي چي ددوی اداره ناكامه وه اويه دي هم بايد پوه شي چي ترڅو وروسته كه له روسانو څخه هر دول (٤) مخ

په هرات كي دتورن اسماعيل دري تنه قوماندانان داسلامي دولت له مجاهدينو سره يوځاي شول

دهرات څخه دشريعت خبريال خبر راكوي قوماندان نذيراحمد دقدير غيښان مرستيال قوماندان نثار احمد او قوماندان عبدالغفور دحقيقت په درك كولو سره تيره ورځ په هرات كي داسلامي دولت له مجاهدينو سره يوځاي شول .چټلي پرولي درندي سپكي وسلي اوتجهيزات يي داسلامي دولت مسئولينوته وسپارلي. اوهر يوه پخپل وار سره ژمني وكړې چي نور به داسلام اوهيواد ددښمنانو په شومو دسيـــو ونه غوليږي او داسلامي دولت دمجاهدينو سره يوځاي به دښمنانو هر ډول مقابلي ته ليوال وي.

دوي داهم وويل: چي موږ غوښتل خپل هيوادته راستانه شو، خو دايران لاديته حكومت نه غوښتل چي موږ دي خپل هيواد ته راستون او دطالبانو داسلامي تحريك پرضد ئي مقابلي ته مجبور كړي وو.خبرځاي زياتوي: داسلامي دولت مجاهدينو ددوي دنيك اقدام څخه مننه وكړه دوي ته ئي ښه راغلاست ووايه.

او دهر ډول مشكلاتو دحل وعده يي وركړه دلوي څښتن په لاره كي ئي ورته دنيكو خدمتونو دتوفيق غوښتنه وكړه.

روسي اخبارونه او اتارتاس اژانس وايي:

روسيه دي دنوي اتحاد له ملاتړ څخه ډډه وكړي

دطالبانو بري داحمد شاه ابدالي له كاميابيو سره مشابهت لري دافغانستان په شمال كښي دطالبانو خلاف ډون دروس دهغه سياست په گډه تماميږي چي غواړي (٤)مخ

بي بي سي راديو دشمال په ائتلاف په يوه تبصره كي :

دشمال دقوتونو ترمينځ دائتلاف دپايښت امكان ډير لږ ليدل كيږي

د بي بي سي راديو دشمال په ائتلاف په تبصره كښي وويل كوم قوتونه چي يوځاي شوي، دوي وړاندي هم يو ځاي شوي وو چي بيا وروسته ټلوركاله په خپلو مينځو (٤)مخ

محترم اسحاق گيلاني وويل:

كه دمزار په غونډه كي طالبان برخه وانخلي بيا هيڅ اهميت نه لري

دافغانستان دتفاهم اوملي يووالي دشوري رئيس ښاغلي اسحاق گيلاني وويل: په مزار كښي غونډه اويه هغې كښي دگډون لپاره زياتي نيمگړتياوي شته. (٤)مخ

سرمقاله

نامقدس ائتلاف اودهغه ناوړه عواقب

هغه وخت چي په افغانستان كي دكمونستي رژيم راپرزيدل حتمي شول اوديوه پروگرام له مخي سياسي قدرت مجاهدينو ته انتقاليدو، نو په دغو حساسو تاريخي شيبو كي دشمال دائتلاف په نامه يوداسي نامقدس ائتلاف رامنځ ته شو چي په نتيجه كي يي بوځل بيا په گران هيواد كي دوينو ويالي وبهيدي . دغه نامقدس ائتلاف وظيفه درلوده چي دجهاد ټول مقدس اهداف تر خاورو لاندي كړي اوټول هغه افتخارات په اوبو لاهو كړي چي دجهاد په څوارلس كلنه موده كي مسلمان اومجاهد ملت ترلاسه كړي وو.

په دغه نامقدس اواسلامي ضد ائتلاف كي هغه كسان هم شامل وو چي دوطن دپلورلو اووراتولو توروداغ يي هم په تندي پروت و او داسي جنايتـونه يي سرته رسولي وو چي دنړۍ په تاريخ كي يي څوك مثال نه شي ښودلاي ، هغه ببرك كارمل چي له څه دپاسه پولك روسي لښكرو سره په ټانك سپور كابل ته راغلي ددغه نامقدس ائتلاف عمده ركن و اودهمدغه مكار ترلاريښوونې لاندي احمد شاه مسعود اوله ده سره په ائتلاف كي شريكو انډيوالانو هغه څه ته لاس واچاوه چي قلم يي له بيان څخه عاجز دي.

پاتي په (۲) مخ

داسلامي انقلاب دساتني لپاره دټولو صالحو شخصيتونو مرستي ته ضرورت دي

مولوي احسان الله (احسان)

دمحترم قاضي محمد امين وقاد يوهيئت چي لس تنه پكي وو دشنبي په ورځ دميزان په

۲۱ نېټه په جلال آباد كي له محترم مولوي احسان الله احسان سره وكتل.

دغه لس كسيزهيئت محترم مولوي احسان الله احسان ته دمحترم قاضي (٤) مخ

دافـــــغانستان داسلامـــى پاخـــون شـــورى

روسانو لكه چي په افغانستان كي خپله تاريخي ماتي هيره كړي ده چي يوځل بيا غواړي زموږ په كورنيو چارو كي مداخلــــه وكـــړي

كه چيرى له طالبانو سره دملت ملاتړ نه واى نو دومره چټك پرمختگ يي نه شوكولاى

دميزان په ۱۲ نېټه دپنجشنبي په ورځ دافغانستان داسلامي پاڅون شوري دغي

شورى دمرستيال محترم ارباب محمد طاهر خليل په مشرى غونډه وكړه.

غونډه دعظيم الشان قران دخوصبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه ، وروستي (٤) مخ

داطلاعاتو اوكلتور سرپرست وزير محترم امير خان متقي دالمان غږ خبر يال ته وويل:

ددښمنانو تبليغات دروغ دي اوحقيقت نه لري

داطلاعـــاتو اوكلتـــور وزارت سرپرست محترم امير خان متقي دالمان غږ خبريال

ديوښتني په ترڅ كي وويل چي دافغانـــستان په دين اووطن مين ولس دطالبانو ملاتړ كوي او

خدمت ته يي په ښهينگه چمتـــو ولاړ دي. ددښمنانو ټل په نامه يي ښاده (٤)مخ

د تلی او ســـــــــتو ن (۲)مخ

دين وايمان جيست ... (۲)مخ

دطالبانو داسلامي تحري ... (۳)مخ

د ادب ملغلرى (۳)مخ

برق كابل ته ورسيده ! (۳)مخ

په افغانستان كي داسلامي سووني ... (۳)مخ

محترم مولوى صاحب «خالص» دمزار په غونډه كښي برخه نه اخلي

تيره ورځ محترم مولوي صاحب «خالص» په يوه اعلاميه كښي وويل چي مزار شريف غونده كښي گډون څه بلكي دوستم ته څوك په اسلامي دولت كښي ځاي نه وركوي بيا دي څنگه ديوي داسي غونډي كوربه كيداي شي چي په هغې كښي دهيواد لپاره يو اســـلامي حكومت جـــوړيږي.

موږ به دهيواد دملي يووالي په لار كي تر وروستي سلگي خپلي روا مبارزي ته دوام وركړو

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت تركتني لاندي
مسئول مدير : مولوي احمد جان
تيلفون : ۸٤۰۳۷۸
ادرس : په پيښور كي دطالبانو داسلامي تحريك نمائندگي
ديوي گڼي بيه : په هيواد كي (۵۰۰) افغاني
: په پاكستان كی (۳) كلداری

سرمقاله . . .

دا چې دغه بدنام اونامقدس ائتلاف په نتيجه كي زموږمسلمان اومجاهد هيوادوال له كومو ستونزو اوكړاووتو سره مخامخ شول ټول زموږ په مخ كي پراته هغه حقايق دي چې زموږ دهيواد دتاريخ توربات جوړوي.

ددغه نامقدس اوخاينانه ائتلاف برخه والو وظيفه درلوده چې يا خوځانونه په زورپرملت وسپي اوكنه نو كله كله به يې دهيواد دتجربه كيدو گواښ هم وكړ اوپه دې توگه يې غوښتل چې په دين اووطن مين هيوادوال تربروول داسې سياسي فشار لاندي راولي چې كه ددوی واكمنی ته ملی . نو وطن به يې ټوټې ټوټې كړي.

زموږ هيوادوالو داهرڅه په سره سينه وزغمل، دوژلو ، ورانولو او يې پښه كولو ټولي ستونزي يې وگاللي، خو ديوې رڼا دځرك په تمه لاس په دوعا ناست وو اوديوه داسې مثبت حركت انتظار يې درلود چې ملت ته له دغو ټولو بدبختيو اوبدمرغيو نه نجات وركړي اوپه دې توگه وكړاى شي، ديوه ازاد اوحيلوال افغان په توگه په خپل كور اوكلي كی دارام ساه واخلي.

دمسلمان اومجاهد ملت دهمدغه سپيڅلي ارمان دترسره كولو اوهيواد ته دظلم اوفساد له توري تيارې څخه دنجات لپاره دملت له منځ څخه دطالبانو اسلامي تحريك راپورته شو، ملت ورسره ملا وتړله اوپه ډيره كمه موده كي يې دهيواد زياتي سيمې دظلم اوفساد له عاملينو څخه پاكې كړې. دغه اسلامي حركت دخپلو هيوادوالو په ملاتړ په چټكې سره خپل پرمختگ ته دوام وركړ اوپه پاي كي يې په كابل كی دغه دظلم اوفساد ځاله ونړوله اوپرځاى يې په اسلامي عدالت بنا اداره جوړه كړه، خو دفساد عاملين ددې پرځاى چې تسليم شي دمخالفت او سنگر نيولو لاره يې ونيوه.

دطالبانو داسلامي تحريك زړورو سپاهيانو هغوی تعقيب كړل ان تردې چې پنجشير اوسالنگ غاښي ته يې ورسول، تر څو په دې توگه په ټول هيواد كي ددوی دبيا تيكاو لارې بندې كړي. دطالبانو دغه چټك پرمختگ يو ځل بيا په كريملين زلزله گډه كړه او ناري قلقلي يې پيل كړې چې گنې طالبان به دمنځنۍ آسيا اسلامي هيوادونو ته نفوذ وكړي او په نتيجه كي به روسانو ته خطر متوجه شي، د روسانو دهمدغو منهو ترړو په بهير كي د روسيې دصدراعظم په گډون دمنځنۍ اسيادبو شمير هيوادونو مشران په الماتا كي سره غونډ شول اويو ځل بيا يې زموږ په هيواد كي دمستقيمې لاس وهنې پروگرام جوړ كړ.

دالسا تا دغونډې په تعقيب دهغوی دجوړكړی پروگرام له مخې بيا هماغه نامقدس ائتلاف راژوندی شو چې پرون دافغانانو دغوڅ مخالفت په نتيجه كي دړې وړې شوی و ، دغه نامقدس ائتلاف يوځل بيا غواړي چې په هيوادكي دوېنو ويالي وبهوي اودروسانو هغه پلانونه عملي كړي چې په تيره اتلسو كلونو كي يې دافغانانو دتباهي لپاره جوړ كړي او داحمد شاه مسعود په وجود كي يې پلي كړي دي . خو زموږ مسلمان اومجاهد ملت دغو ټولو توطيو اودسيسو ته متوجه دی اودغه ناولي پلان به هم داسې دړې وړې كړي لكه پخواني دبرپلانونه يې دړې وړې كړي اوپه ابيو لاهو كړي دي، زموږ مسلمان ملت خپل دوست اودښمن ډېر ښه پېژني ، ځكه پرون كه روسانو دببرك كارمل اوډاكټر نجيب په وجود كي زموږ دخلكو دتباهي اوبربادي پلانونه عملي كول، نو ننن يې داحمد شاه مسعود او دده داسلامي الهبوالانو په وجود كي پلي كوي، كه پرون يې دملحدو كمونستانو دلارې زموږ هيواد وراناوه، نو نن يې دهغو پرېځو په لاس ورانوي چې په ظاهر كي يې دمسلماني جامې په تن كي دي او كه پرون يې په مستقيمه توگه زموږ په هيواد بربنډ يرغل كړی و، نو نن په غير مستقيمه توگه غواړي دخپلو مسلمان دوله پرېځو په واسطه خپل هغه هدف ترلاسه كړي چې دمستقيم يرغل په واسطه يې نه شواى تر لاسه كولاى.

اوس چې زموږ مسلمان اومجاهد ملت يوځل بيا راپاڅېدلی اوحق سنگر يې نيولی دی ، داسې ډېر ناولي اونامقدس ائتلافونه به په اوبو لاهو كړي او دغه چا ناولي ارمانونه به ترخاورو لاندی كړي چې په دې توگه غواړي يو ځل بيا زموږ هيواد غلام كړي اوپالي ترلړه خپل غلامان وربانديي واكمن كړي ، خو دمهربان خداى «ج» په مرسته به دغه ارمان گورته يوسي اوبيا به هيڅوك هم ددې جرأت ونه كړي چې زموږ دمسلمانو خلكو دهيلو اوارزوگانو پرخلاف عمل وكړي.

د شريعت تبصره

دطالبانو داسلامي تحريك مشروعيت اجتماعي ياټولنيز الهام

ځرنگه چې دنبوت او رسالت كړۍ په حضرت خاتم الانبياء والمرسلين بالذی پاى ته رسيدلی او دانگه دمخلوق د لارښوونې لپاره دوحی هغه سلسلې چې دانبياوو لخوا ورته دوام وركړل شوی وختانه مونډلی .

اوس نو كله چې محمدی امت ته په ځينې غير عادی مواردو كښې دځانگړي اوفوق العاده لارښوونې اړتيا پيداشي نو خداوند كريم ته دغه امت سره له بې پايانه شفقت او خاصې مهربانی څخه په كار احستلو په خپله د امت دمستقيمې لارښوونې په خاطر يو نظام برقراره ساتلی چې موږ يې په اجتماعي الهام سره تعبيرولی شو.

په مخكنو امتونو كښې چونكه دوحی سلسلې دوام درلود نوځكه هغوی ته ددغې فوق العاده رهنماى اړتيا نه وه. امت محمدی ته د و حې دانقطاع له جهته دغه ډول امتيازات ور په برخه شوي .لكه ځرنگه چې ددې امت علماء دانبياوو وارثان بلل شوي او دخداى «جل جلاله» او درسول «ص» په اطاعت سربېره داولامر داطاعت حكم ورته شوی. اودلاعلمی په صورت كښې ته اهل الذكر څخه په سوال كولو دغه امت مكلف شوی داځو دموضوع په ارتباط لنډه بيژندنه او تمهيد و اوس به دموضوع دتفهيم اوتشرح لپاره له تاريخ اسلام څخه څو بېلگي اومثالونه راواخلو.

د رسول اكرم «ص» له رحلت څخه وروسته د صديق اكبر «رض» دخلافت ترلوسره «وحځو پوري قرآن كريم په ترتيب دول په كتابي شكل كښې نه و موجود . ديماني په جگړه دحفاظو اوقاريانو په شمول د ډېرو صحابه وو دشهادت سره سم خداى تعالى دفاروق اعظم «رض» په زړه كښې دا خبره واچوله چې قرآن كريم بايد په كتابي شكل كښې راجمع كړل شي . كله چې حضرت ابوبكر صديق «رض» ته داخبره ياده كړل شوه هغه پدې دليل چې كوم كار رسول الله «ص» نه دی كړی هغه زه څرنگه كولی شم، لدغه كار څخه ابا وكړه خو بيا وروسته دفاروق اعظم «رض» په شديد ټينگار هغه هم دغه كار ته خداى تعالى مائله كړ، اوحضرت زيد ابن ثابت دغه لوی كار ته وهڅول شو اودغه لوی كار تر سره شو.

وروسته بيا دحضرت عثمان «رض» دخلافت تروخته پوری قرآن كريم په مختلفو قراتونو كښې تلاوت كيده . حضرت عثمان «رض» دالهي الهام په نتيجه ددې خبرې ضرورت احساس كړ چې بايد ټول مسلمانان په يوه قرائت راجمع كړي ترڅو داختلاف وافتراق هيڅ نوع تيته اوعلامه موجوده پاته نشي. په همدې منظور يې دقرآن كريم دهغې نسخې چې له ام المؤمنين حضرت حفصې «رض» سره موجوده وه . نقول په ټولو بلادو داسلام كښې خپاره كړل.

همدارنگه په مسلمانانو كښې چې كله ماديت غلبه وكړه او عملي انحطاط منځ ته زياتيدو شو نو يوه ډله اهل حق راپورته شول اوترڅو كې اواحسان قرآني او نبوي اوامرېې دتصوف اوسلوك له لارې پرځاى كړل.

په موجوده حالاتو كښې څلور كاله وړاندې دكمونستانو له ظاهري سقوط څخه وروسته كله چې په افغانستان كښې فتق وفساد په لويه پيمانه پيل او خپل اوج ته ورسيد او له دردمندو مسلمانانو څخه يې دمخنيوي اومقابلې توان اولوری ورك كړ. خداوند تعالى دخپل يوه خاص اوغوره بنده په زړه كښې ددغو فسادونو په ضد دقيام اوجهاد عزم پيدا كړ كله چې دخداى تعالى دغه خاص بنده دخداى تعالى له لوری ورته دالهام او سپارل شوی دندی دپوره كولو لپاره ملا وتړله اوپه خداى يې توكل وكړ نو دخداى «ج» دنورو ډيرو بندگانو زړونه دلوی خداى «ج» له لوری داجتماعي الهام په نتيجه كښې دې كارته مايل شول، اودطالبانو په شكل كښې چوپې چوپې خلكو دخادم الاسلام والمسلمين اميرالمؤمنين مجاهد كبير ملامحمد عمر «مجاهد» په پله پل كښېښود. اوديوه عظيم كاروان صورت يې اختيار كړ دالهي نصرت په نتيجه كښې دحق دغې قافلې دگاميابۍ ډېر پراوونه طی كړل اولاپه مخ روانه ده.

ددغه لوی كار په اوږدو كښې هم ډېر واقعات تكرار شول هم داحد دغزا له امتحانه وكې پيښې منځ ته راغلې. او كيداى شي چې خداوند حكيم دنورو ډيرو حكمتونو اوامتحانانو ځرگندونه وكړي. او مونږ نور هم امتحان كړي. خوپه نورو قاطعو دلائلو سربيره تاريخ اسلام هم دا خبره ثابتوي چې داجتماعي الهام په نتيجه كښې دپيل شوی كار مخه نه كفر او الحاد بندولی شي او نه داسلام په جامه كښې تش په نامه مسلمانان اونه ددغو دواړو ناولي ائتلاف .

دتلی اوښتون

داحوزاده لسكه

دطالبانو اسلامي غورځنگ د ۱۳۷۵ كال دتلی (ميزان) په شپږمه نېټه دكابل دفاسد او مفسد ائتلافي حكومت په رانسكورولو سره په هيواد كښې يو سپيڅلی اوښتون برپالی كړ او ديوه نوي اسلامي نظام بنسټ يې كيښود.

دلته دابايد ياده كړو چې په تيرو پنځه ويشت كلونو كښې چې په هيواد كښې كوم پاځونونه او اوښتونونه نه شوي وو هغه دكال په داسې مياشتو كښې وو چې دځناورو اوحيوانانو نومونه يې درلودل او ورسره دې اوښتونونو هم ژور حيواني خصلتونه درلودل، حيواني كارونه يې وكړل او حيواني انقلابونه ورته ويلاى شو.

د۱۳۵۲ كال دچونگاښ (سرطان) د۲٦ نيټې كودتا كه څه هم ظاهراً سپينه وه اوظاهراً يې انساني تلفات لږ وو خو ددې نظام په تركيب كښې دكمونستانو ژوري ريښې ددې سبب شوی چې دافغانستان په اسلامي وجود كښې دسرطان دانه داسې ريښې وغځوی چې تراوسه يې زموږ ملت رنځور كړی دی، د ۱۳۵۷كال د غويي (ثور) د اوومې نېټې غويل خو دومره خونړي اووحشي وو چې بوازي دلومړي ورځې دتلفاتو شمېره يې دېنځلس زره مسلمانو افغانانو شهيدانول وو، وروسته د ۱۳۵۸كال په مرغومي (جدي) كښې افغانستان ته دسل زره روسي لښكرو راتلل يو بل حيواني غويل و چې تر سره شو او نتيجه يې تر يو نيم مليون زياتو افغانانو شهيدانيدل او دهيواد يو مخيز اوهراړخيز ورانيدل وو.

د۱۳۷۱كال دغويي په اتمه نيټه يوځل بيا په هيواد كښې يو بل لوی حيواني غويل وشو چې تركيب اوترون يې تر پخوانيو دواړو غويلونو زيات حيواني اوظلمانه وو، دې غويل دكفر اواسلام پولې سره گډې كړې او په يوه پله خطرناكه لوبه يې دملت په وړاندې صف آرايي وكړه، هغه مجاهدين چې څوارلس كاله يې ملت ته دفي سبيل الله جهاد وعدې وركولې دقدرت او څوكۍ دساتلو اوگټلو له پاره دژبې نژاد په ويش پيل شول او په همدې اساس يې له دوو ورته ولو كمونستانو سره ائتلاف وكړ اوملت يې بيا دجگړو په اور كښې راښكيل كړ، دوی ډېره هڅه وكړه چې ملت دپښتون، تاجك، هزاره ، اوزبك او شيعه اوسني په نامه سره وجنگوي اوپه ټول هيواد كښې يو نوی اوربل كړي خو لله الحمد دافغان مسلمان اوقهرمان ملت چې … «جل جلاله» له پاره يې جهاد كړی ؤ ددوی په دې ناولي جنگ ورگډ نه شو او تر ډيره حده جگړه بوازي په كابل كي محدوده پاتې شوه خو جگړه مارو ډلو دڅوكۍ او مقام له پاره دكابل يې دفاع خلك دوال په حيث استعمال اوپه ډيره بې رحمي پامال كړل چې د غوايه ددې پاڅون څرپانيان هم ترپنځوس زروتنو اوښتل واوياتكيانو اوتوپكيانو دخلكو په مال ،ناموس اوسروحشيانه اوبې رحمانه لوبې وكړې، دنژاد، ژبې اومذهب په نامه سره بيلو شويو توپكيانو دڅوكۍ ساتلو اوڅوكۍ ترلاسه كولو په لوبه كښې ډېر ژر دوفاداريو په بدلولو لاس پورې كړ، يوه ډله به له هغې بلې ولې سره كيښناسته دحكومت دڅوكيو هوايي جمع او ويش به يې وكړ اوبيا به له هغې بلې ولې گډه جگړه پيل كړه او پرونې دښمنان به سره دوستان اوننني دوستان به سره دښمنان شول اوهغه ډلې به چې تش په نوم څوكۍ ورسره وې نورو ډلو ته دڅو بې اختياره څوكيو په وركولو سره دهغو دلو ملگري شوي چې ترننه دا وژلوبه (بزكشي) راروانه وه.

دڅوكيو له پاره جنگيدونكو دې ډلو دطالبانو داسلامي غورځنگ تر ظهور وروسته ، دې غورځنگ ته هم دخپل ځان په نظر كتلي وو اوپه وار وار يې دڅوكيو دنيولو اودڅوكيو دويش وړانديزونه ورته وكړل خو دطالبانو اسلامي غورځنگ چې دكوم هدف له پاره پاڅون كړی ؤ هغه دڅوكۍ تر نيولو اوڅوكۍ ترلاسه كولو نه ډېر لوړ ځكه ددېوه غورځنگ مبارزه دمقام له پاره نه بلكې دنظام له پاره وه او دافغانستان دمسلمان اواتل ملت دبرپالی جهاد چې كمونستان اوشوروی يې راسكور كړل، دمبوو ترلاسه كولو له پاره وه نو ځكه يې په لوړ غږ دوی ته وويل چې موږ له دې فاسدو تنظيمونو سره په هيڅ دول سازش نه شو كولی بلكې داتوپكيان ، پاټكيان او دملت دښمنان به رانسكوروي او دافاسد ائتلافي رژيم به راپرځيږي.

هوا پرلوی خداى «جل جلاله» تكيې اودملت غوڅ ملاتړ هغه ورځ راورسوله اولوی خداى «جل جلاله» پرخپل كامل قدرت دا اوښتون دكال په تله كښې برابر كړ او دحيواني انقلابونو لړۍ ته يې خاتمه وركړه.

دتلی داوښتون په لومړي ټول كښې د كابل دكمونست رژيم وروستي مكار، هوښيار اوډير غدار مشر ډاكټر نجيب دخپلو وحشيانه اوحيواني اعمالو سزا وموندله اودهغو اتيازرو مسلمانو افغانانو انتقام ترې واخيستل شو چې ده دخپل خاد درياست په وخت كښې په خپل لاس اوخپل امر وژلي وو.

دطالبانو اسلامي غورځنگ هوډ لری چې دتلی اوښتون به دخداى«جل جلاله» قسط له غوښتنو سره سم پرمخ بيايي او دلوی خداى «جل جلاله» درضا اودخپل مسلمان اواتل ملت له خوښې سره سم به گاموته اخلي او دحيواني انقلابونو تاوړه نخښې نښانې به له منځه وړي.

دین وایمان چیست وچگونه بشر را بسوی ارتقا وپیشرفت دعوت مینماید

تتبع ونگارش « مولانا زاده »

گفتار پیشین را بااین موضوع خاتمه دادیم که دین اسلام بخاطر توجیه انسان پیام الهی وراه مستقیم خداوندی است، در اینجا از مفهوم دین وایمان واینکه دین دعوتی است بسوی ترقی وپیشرفت توضیحاتی ارائه میداریم؛

دین وایمان آن عقیده انسانی را گویند که بالاشتراك انسان در فکر وسلوك خودش زیر تأثیر ارتباط با دیگران قرار میگیرد، دین قانون ساخت دست وتقرر انسان نیست که تنها بخواست علماء وشارحان ویابخواست دانشمندی که قانون ونظام زندگی جامعه رامیسازد منحصر گردد.

دین درحقیقت آنست که محض بخاطر خدا واز جانب خداباشد، خدا موجود زمان خاصی ویا خانواده خاصی را نمیگویند، بلکه خدا آن ذات پاك ومقدسی است که از تمام صفات کمالیه اینکه ما ازا تخمین میتوانیم نمود، صفات برتر وعالیتری داشته ومورد هیچ عیب ونقصی نمیتواند شد ودر همه صفات کمالی وجمالی بالاتر وفوقتر از تصوراتسان ذات موضوعی است که کمال مطلق از او تعبیر میتمائیم.

این ذات کامل ابدی و دایمی ، آن ذاتی است که دین بآن منسوب است، اوبه بنده خاص خودش وحی میکند ومأمورش میگرداند که وحی را بمردم برساند .پس بنابر آن دین آنچیزیست که خداوند«جل جلاله»

برهمه نسل بشر نازل فرموده وپیامبرانش را به تبلیغ آن با انسانها مکلف گردانیده تا بمردم در ارتکاب امورد خلاف انسانیت را عذر ومعذرتی باقیماند.

لذا وقتیکه دین باآن خدائی منسوب است که از هرعیب ونقصی پاك ومنزه وکاملاً موصوف بکمال است، بنابران دین هم از هر عیب ونقصانی عاری وآن کمال موصوف در ان مشعشع است که نه باطل در ان راه میباید ونه بغرضی ملوث است که طبقه ایرا بر طبقه دیگر محض از نگا قومیت یا رنگ ونسل وزبان امتیاز وبرتری بخشد وچون در مفهوم حرفی است که اتباع آن لازم است . للذا باداشتن ایمان عمل نیز برآن ضرور میباشد.

می بینیم که عده، از کوردلان وبی بصیرتان از وجود خداو«جل جلاله» انکار کرده وبالوسیله از قبول دین سرباز میزنند ومیگویند که دین دیمودی شده ویاخواست زمان وعصر موجود موافق نیست ، پس اگر این منکران وجود خدا «جل جلاله» وتارکان دین وایمان دیده بصیرت بازکنند وبه خلقت انسان وحیوان وآنچه در ماحول خود بصورت عینی می بینند بیندیشند ودر موضوع حقیقت دین واینکه دین وایمان چیست وبما چه راهی را نشان میدهد وچه راهی مارا رهنمائی میکند غور کنند بلا تردید خواهند پذیرفت وخواهند دید که دین انسان را براهی که دران خیر وفلاح وصلاح است ویرایش نهایت مفید است رهنمائی مینماید وسلوك وروش انسانی را بانسان تعلیم میدهد، به مقاصد شخصی وخواهشات ناجایز انسانی وامتیازات خانوادگی وتبعیضات نژادی یکی خط بطلان میکشد وملحوظ انسانیت وبشریت را حفظ میکند.

از آنجائیکه دین تخلیق انسان وساخته دست انسان نیست، بلکه توسط آن ذات

پیوسته به گذشته

مطلقی که مبری از هرعیب وذات قادر وباعظمت کاملی است بوجود آورده شده است، لذا ایمان داشتن بخداو«جل جلاله» در جستجوی دین باو دست میدهد وانکار از وجود خالق خود را دور از انصاف میداند وانکاری از وجود اونمیتواند کرد.

پس مفهوم دین آن هدایتی است که خداوند بصورت وحی وبه ملحوظ درست نمودن سلوك قیام روابط اجتماعی واصلاح فکر وعمل انسانان صادر ونازل فرموده که علم وفهم آن وایمان وباور بآن واجب باشد.

وقتی از علم حرف زدیم وعلم را درپهلوی ایمان قرار دادیم میگوییم که علم وایمان دو چیز یست که در زندگی انسان به دین اثر می بخشد وهمین چیز در بهره برداری از نور هدایت دینی بانسان توفیق می بخشد وبرابری واستقامت فکری وسلوکی ووجدانی برآن صورت میگیرد. دین بدون علم واحکام دینی که بافهم وعلم توأم نباشد، بهمان انداز، مضر وخطرناك است که ادعای دین در صورت نفاق پرخطر میباشد. چه دیندار جاهل ونادان همچون منافق ودیندار بی ایمان از خطر محفوظ نمیتواند ماند. آنانیکه بارزشهای دینی به نظر شك وتردید می بینندویا آنانیکه میخواهند دین را از زندگی انسان دور سازند چون مردگانی است که دین را ازدیندارانِ جاهلی ونادان ویامنافقان آموخته اند که محض انتفاع دنیوی دین را پذیرفته وقبول کرده اند چون دین اسلام بر زندگی پیروانش تأثیر مثبتی داشته وسلوك وعلاقه یکی را با دیگری تفسیر درستی نموده للذا لازم میداند که وقتیکه کدام خطری اجتماعی ظهور کند ویا ارزشهای دینی در معرض خطر قرار گیرد بجای آنکه مردم از احساسات خویش کاربگیرند ویا از عالمی که درست درمسایل وارد نیست چیزی بپرسند ویشنوند بهتر است خود بدین مراجعه کنند ودر پرتو قرآن وحدیث حقیقت موضوع را بیابندچه:

الله تبارك وتعالی میفرماید: «ای مؤمنان از خدا ورسول وی اطاعت کنید چه رسول ، رسول خدا وفرستاده اوست وهرچه رسول الله میگوید بیان احکام خداست وممکن نیست شما را فریب دهد وبعدازکسانی پیروی کنید که علم وفهم دینی دارند وایشان کسانی استند که در آموزش کتاب الهی زحمات زیاد کشیده اند وحق وحقیقت را در یافته اند.»

٣

شکی نیست که خداوجل جلاله» ورسول «ص» تنها رفتن براهی راتوصیه میفرمایند که وحدت را بمیان میآورد وریشه منازعات ذات البینی را متاصل میسازد وعلمای واقعی دین هم احکام خداوجل جلاله» ورسول «ص» را بمردم ارائه میدارند، معهذا هرگاه مردم در حل منازعه بردانش وفهم عالمی مشکوك شدند ودر فهم کتاب الهی بین علماء احساس اختلاف کردند(چنانکه امروز درمیان علمای ما این اختلاف هست) در اینصورت خود بکتاب الهی واحادیث نبوی بلا وسیله ویا بالوسیله عالمی متقی مراجعه کنند وگفتار وفیصله علمای درحال اختلاف را سرمشق عمل در رفع منازعه خویش نسازند، بلکه باتطبیق بکتاب الهی وحدیث نبوی برآن عمل نمایند، البته رفع این منازعه ذریعه خود بدون علم وفهم دینی میسر وممکن نمیباشد.

حالا به وضع وحالت موجود وروان جامعه وکشور خویش (افغانستان) نظر میاندازیم وعلت العلل باهم افتادن برادران،هموطن خود را که منجر به قتل وقتالها وخونریزیهای بی مورد وبربادی وتباهی هست ونیست ماشده جستجو میکنیم وبه عامل یا عوامل اصلی آن البته در خودفهم خویش تا آنجا که از نزدیك دیده ایم ومیدانیم اشاره مینمائیم:

شکی نیست که زعما ورهبران جهادی ما که درطول چارده سال جنگ وجهاد علیه ملحدان روسی وچاکران وغلامان مرتد وفروخته شده شان این منکران دین وخائنان بوطن وهموطن وظیفه رهبری وقیادت شان را در میدان نبرد انجام داند.

ومردم مجاهد وسربکف مارا که تاریخ پرافتخاری دردفع دشمن ودفاع از دین وناموس میهن داشته ودارند، رهبری نمودند .

باردیگر بیگانگان دست غرض از آستین کشیدند وحکومت مؤقت بنام جمهوریت اسلامی بعد ازسقوط نجیب باحیله ونیرنگ خاصی تشکیل مجالس وجلساتی در اسلام آباد ومکه معظمه رویکار آوردند وروسای دوماهه وچارماهه که نظیر آن در طول تاریخ حکومت ها ودولت ها دیده نشده ووجود نداشته خود تعین ویاافغانستان اعزام داشتند واین البته مصادف وقت وزیانی بود که اختلافات درونی تنظیمهای جهادی باوج خود رسیده وآنقدر حاد شده بود که رئیس جمهور دست در دامن ملحد سرشناسی که سالهای دراز جهاد اسلامی را در ضدیت با اسلام ومسلمین وموافقت وپیروی ازسرخان وحشی ومتجاوز چون غلام حلقه بگوشی سپری کرده وهزاران در هزار مردم مسلمان وهموطن خویش را قربان توسعه طلبی شوروی وامید آینده زعامت وحکومت خود... ... برنقاط زرخیز ونفت خیز افغانستان وحتی همه خاك کشور نموده بود، ناجوانمردانه وناعاقبت اندیشانه انداخت واورا در مقر قدرتش در آغوش محبت کشید واز همه بدتر ونامیمون تر لقب قائد وقهرمان جهاد افغانستان بخشید وسترجنرالی (سردار سالاری) قوای جهادی وطن رامحض بخاطر دوام وبقای ریاست خودش عنایت کرد!!!

غافل ازاینکه : دشمن دین دوست نمیگردد واعتماد وتکیه برعدو وخصم کار جاهلان وساده لوحان بسته بهر حال رئیس دولت (رئیس جمهور) منتصب باعده از رهبران واطرافیان شان بکابل پایتخت افغانستان رفتند وبمشوره مشاورین غیر کابینه ایکه از هر تنظیم یکی دو وزیری درآن جاداده شده بود رویکار آمد ، وزارتها وریاست ها تقسیم وتوزیع گردید ، لیاقت وکفایت وسابقه کار وکاردانی دراین دولت وحکومت مطرح نبود، نزدیك خویش پرستی وقوم پرستی وتنظیم دوستی ملاك قضاوت درتعین انتخاب بود، بهمه تنظیمهای ده گانه (هفت درپشاور وسه در ایران) بدون در نظر داشت خوردی وبزرگی تنظیم در تشکیل حکومت حق مساوی دادند واینکار منجر برآن شد تاجنگها وخونریزیها بغرض استیلا برنقاط حساس ووزارتخانه های بزرگ کابل (وزارت خارجه صدارت ووزارت داخله وامنیت عامه)بشدت هرچه تمامتر شروع شود، اردوی منظم کابل خلع سلاح گردد، جانیان وقاتلان وکمونستان ضد حکومت نجیب وهم یکدسته از مسلمانان دربندمانده همه از بندرها گردند وهر دسته وهر طبقه برای برآوردن غرض ومقصد خویش عرض اندام کنند. از تنظیمهای مخالف در جنگ کارت تنظیمی وسلاح بدست آرند، بازار قتل وغارت وچوروچپول را گرم تر سازند وهمه بدنامیها را به جهادو مجاهدینی که با پاهای برهنه وشکم گرسته ونام نیك وخجسته در برابردشمن سفاك وچاکران وطنفروش او مردانه قیام کرده وجنگیده بودند ودشمنان جبون را زبون ساخته بودند ودر انتظار ثمره ونتیجه جهاد فی السبیل الله شان بودند، بستند وبه آنان نسبت دادند .

نتیجه ناعاقبت اندیشی ، خودکامی وغرور ،قدرت طلبی، عدم وحدت عمل ونظر، فقدان شعورسیاسی و اداری در کشور داری وناسالمیت تربیه اجتماعی پیشوایان ومربیان دوران جهاد چارده ساله در سرزمینهای هجرت میباشد که انکار ازآن انکار از حقیقت وواقعیت وچشم پوشی ازآن گناهت بزرگ ونابخشودنی ، زیرا اگر بزرگان هادی ما وهم اطرافیان وهمکاران نزدیك شان که از همه نعم وخشم دوران پیش از هفده سال رهبریت بهره مند برخوردار بودند ، پای کشهای آخرین مود سال جاپانی در اختیار داشتند وبار- بار به سفر وزیارت بیت الله مشرف شدند وباتحایف گرانبها وکیسه های پراز درهم ودینارپه پشاور برگشتند ودر سایرمال ومنال زیاد دنیوی بساط عیش ونوش گستردند، مالکان منازل زیبای شخصی وحرم سراحها وبازگردن حساب ذخائر پس ازانداز بانکی در بانکهای ممالك همسایه گردیدند، ناز پرورده ها وارجمندان شان را باستفاده از چوکی ومقام تنظیمی ولوکه لیاقتی در مدارس ومکاتب نشان نداده بودند غرض تحصیل به ترکیه وهمه ممالك بشمول عربی اعزام داشتند، مطابق باحکام قرآنی وشرعی حرکت میکردند وآنچه بخود میخواستند بدیگران هم روامیداشتند، حقوق برادران خیمه نشین صحراهای سوزان درهجرت ومجاهدین پا برهنه وشکم گرسته سکون در مغاره های کوه های پراز گزنده وخزنده را درنظر میگرفتندومیپرداختند، امداد به یتیمان بی سرپرست در وطن وهجرت را که از حقوق حقه شان بودند باتان تسلیم میداند وباطاعت از امر قرآن بمال یتیم نزدیك هم نمیشدند، به مجروحین وزخم برداشته گان مسلمان جهاد جقی لازمی قایل میشدند بیوه زنان در حجاب ومسلمان را که در محلات وبازار های سرزمینهای هجرت دست به گدائی زده وفریاد میزدند « برادران مسلمن با اولاد خود گرسته ام وچیزی ندارم مراکمك کنید! بوشما شان زیاد وروز افزون بود ، دستگیری ومعاونت مینمودند، بلاشك و تردید خواست مسلمانان وطن عزیز ما افغانستان در استقرار یك نظام اسلامی ودولت خاطر خواه مردم ما برآورده میشد ودر آتش جنگ خانمانسوز نمیسوختیم وبازندگی درغربت ودوری از وطن در اوطان دیگران که بخدا خیلی درد آوراست نمی ساختیم.

بهرحال ، حقی ماحقی (گذشته گذشت) دعای مسلمانان خدا پرست ومتعهد باایمان واسلام باقیام تحریك اسلامی طالبان این اصیل فرزندان افغانستان عزیز که منظوری جز تأمین امن وامان وامحای الحاد وفساد وانقطاع چپاول وغارتگری وانفاذ شریعت واحکام الهی در زادگاه اسلامی شان نداشته وتعبیر دیگری ندارد، مستجاب گردید نابرابریهای اجتماعی، خود کامی وخودخواهی ، خویش پرستی وقوم پرستی ، زبان پرستی وبالاخره اتکا ووابستگی بادشمنان خداوند «جل جلاله» ومردم مسلمن بخاطر حفظ کریهای لرزان منحصر بچند ولسوالی وناحیه که متأسفانه در بیش از چارسال زمامداری نافرجام منتصب بیگانگان همه افتخارات جهاد چارده ساله کشور ومردم سربکف مارا زیر سوال قرار داده ورویه نیستی ونابودی میبرد، ازسرزمین شیرمردان دیانت شعار رخت سفر برداشت که انشاء الله برای همیش بگورستان سیاه تاریخ مدفون گردید، لله الحمد کنون مردم مسلمان افغانستان در بیش از۲۳ولایت کشور که تشنه امنیت وآرامش بوده وباضطراب خاطر از عدم مصئونیت جان ومال وحتی ناموس زندگی فلاکتباری را درخانه وکاشانه خویش میگذرانیدند، در زیر درفش سپید صلح وآرامش که بدست پرتوان وارثان حقیقی اسلامی برکاخهای دیرینه تطاول واحجاف برافراشته شده ونمایانگر عدالت وبرادری وبرابری اسلامی است نفسی براحت میکشند. منت خدابرا عزّوجل که چنین نعمت بزرگی را برما ارزانی فرمود ومردم درد دیده ورنج کشیده سالیان متمادی سرزمین مسلمان مارا از آسیب بیشتر وزیادتر خود کامان متطاول رهائی ونجات بخشید که البته شکران این نعمت وعطیه خداوندی را جز پشتیبانی کامل نظر وعمل ودعای موفقیت مزید شفتگان شمع درخشان اسلام (طالبان کرام) نمیتوان بجا وادا کرد.

ومن الله التوفیق

دحضرت عمر فاروق «رض» له وینا وڅخه :

دملا حمیدالله محمدی زالیزی

۱- فرمائلی یې دی چی له مجلس دعلماؤ سره ترو دی اوسه ځکه خدای «ج» هیڅ مقام دعلماو تر مقام پورته نه دی پیداکړی .

۲- فرمائلی یې دی مرګ دیوه عالم تر مرګ دزرو عابدانو چی قایم اللیل اوصائم النهار وی لوی دی.

۳- فرمائلی یې دی هر وخت موچی یو عالم ولید چی ددنیا محبت کوی نو ددین په باره کښی دهغه په خبره اعتماد ندی پکار.

٤- فرمائلی یې دی چی زلزله په ځکه له کثرت دزنا څخه راځی اوقحط له سببه دظلم دحکامو څخه.

٥- فرمائلی یې دی خدای «ج» په هغه سړی رحم نه کوی چی دی په نورو کسانو رحم نه کوی اوخدای» دهغه سړی خطانه بخښی چی دی دنورو له خطا څخه نه تیریږی.

٦- حضرت ابوموسی اشعری «رض» ته یې لیلکی وو چی صبر په دوه قسمه دی یو صبر په وخت دمصیبت کښی اوبل صبر په ترک دمعصیت کښی او دوهم قسم ډیر بهتر اومدار دایمان دی.

کـــابـله وران کــړی

عبداللطیف «نثار»

کابله وران کړی ته یې دینه پرچمیانو وران کړی
چی هرځای به په قدرت شو دوی ئی وو ملګری
چی د رحمت زره ئی نه وه اوهر چــا پییــژندل
داتحاد ناری سوری تولی ئی کـــــړی ورته
ستاپه سر لوبی وی نخری وی څه ملتهی کیـدی
څوك دنظار په لمن لوټه څوك دحزب، اتحـاد
ستاهره برخه دبدن ئی پــــه چــړو توټــه کړه
دارالامان مو دامـــــــــان اوپناییــدو نښه وه
دعاشقانو عارفانو مـــــــــزاری رنګــــی شوی

دروس ملګرو ګوداګیانو سرو خلقیانو وران کړی
دی وطن فروشو کمرښند ملحدانو وران کړی
داسی خاینو خاصیانو واکدارانو وران کـــړی
دغو خود سرو ظالمانو لوټمارانو وران کړی
شکلی کابله ناته ځار نه خاینانو وران کـړی
داسی بی فکره بی مسلکه فاسقانو وران کـړی
په بل ئی خرڅه کړه قسم چی کیـړیانو وران کړی
بالاحصار یوږی یوږی شر شعله پائسر وران کړی
له اولیاو نه منکــــــرو مفســــــدانو وران کړی

درحمت وریځی دی په سرګرزی لږ صـــبر وکړه
نثار چی ولیدکه‌دی غلو- دی ستمیانو وران کړی

* * *

د ادب ملغلری

طالبانو ستړی مشی

زمرك کندزی

پرمونږ ګرانو طالبانو ستړی مشئ
داسلام ددین غازیانو ستړی مشئ
دسپی دظالمانو مو تیاره کړی
عزت مندو افغانانو ستړی مشئ
زور اوظلم فسادونه مو ټول ورك کړل
دمسلم دزړه ګلانو ستړی مشئ
دجهاد دیوه مویله کړه نوی کی
ددین شمعی پتنګانو ستړی مشئ
پروګرام دکمونیزم مو پرینډو کړ
دصدیق عمر یارانو ستړی مشئ
زوړ اوځوان درته ولاړ په احترام یو
هم سنګرو هم فکرانو ستړی مشئ
هرقدم مو دبنو دپاسه کیږدئ
دالله ددین سپاپانو ستړی مشئ

اسلامی تحریک ته

«نعمانی»

تحریك دطالبانو راڅرګند شولکه لمر
جاری به شریعت کړی دوی په دښمنه اوبه غر
روزلی دقرآن په مبارکو آیاتونو دی
ویلی مدرسو کښی دحدیثو کتابونه دی
دنیا ورته حیرانه ده لښکر دی دلاور
جاری به شریعت کړی دوی په دښمنه اوبه غر .
ددین په مینه مست دی واقعی مسلمانان دی
ژوندی دی همیشه وی دابه تیپه کښی چراغان دی
ګفارو ته یو روپ اوامریکا کښی دره سر
جاری به شریعت کړی دوی په دښمنه اوبه غر
نړی‌ورته حیرانه ده پیش رفت هره لحظه کړی
خاله ئی ورکړی هر مظلوم په تن دمه کړی
باطل باندی غالب شول دا ځوانان په ښه هنر
جاری به شریعت کړی دوی په دښمنه اوبه غر
چی کوم طرف ته لاړشی خلك وائی مرحبا
هرڅوك دا انتظار کړی چی موږ خلاص کړی له بلا
دفسق اودفساد بی تن یټول کړی دی تخر
جاری به شریعت کړی دوی په دښمنه اوبه غر
قدم یې الله برکړی د دښمن په قدمو
دمه شو هر افغان تن له یې شمیره پاتکو
پردی وطن کښی اوسی «نعمانی» د تن مسافر
جاری به شریعت کړی دوی په دښمنه اوبه غر

د صدق په څپوکی

نهمت ستانیزی

غداره رانه تیتګ شه له حملو سره درځو
دالله اکبر له بدرګو سره درځو
تکبیر مو بدرګه کړ له حجری اوله جوماته
دصدق په څپو کی بدرګو سره درځو
لښکر دذوالجلال یو داسلام لپاره جنګ کړو
دنورو ګوداګیه زلزلو سره درځو
دخدای په دین ایثار ته‌راوتلی یو له کوره
صفونه مو تړلی قافلو سره درځو
جهاد اوشهادت کی موارزو دخدای رضا ده
نوځکه مقابل ته خندیدو سره درځو
ترهغه به جنګیږو څو دی جړی غوځی نه کړو
غښتلی طالبان یو غورځنګو سره درځو
نه یاتس شته دي نه دار اونه احساس دمایوسۍ
زمری د دنګو غرو یو حماسو سره درځو
وروځه بادار دی ویوښته زموږ له شجاعته
په نره په میړانه سرولسو سره درځو
ترهغه به کښینتو څو مو ساه وی په بدن کی
غداره خبردارشه ولولو سره درځو
داره یوازی نه یم مسلمان راسره ډیر دی
تیاری به دی کړو ماتی له ډیوو سره درځو

مونږ مسلمانان یو

ملا اسدالله حنیفی

دازمونږ وطــن دی مونږ ددی وطن بچیـــان یو
مونږ مسلمانان یو مونږ مسلمانان یو
مونږ دخپلی خاوری اسلامی هویت ساتــلی دی
امن مو راوړی دی امن موراوړی دی
پت دمجاهد مو په تودو وینـــو ګټــلی دی
امن مو راوړی دی امن موراوړی دی
ګرانو وطنوالو ستا سو وروڼــه طالــبان یو
مونږ مسلمانان یو مونږ مسلمانان یو
زور موختم کــړی دزور ګیرو غـــدارانو دی
ستاسو په کومك وروڼو ستاسو په کومك وروڼو
مونږه پوره کړی زوړ ارمان دشهیـــــدانو دی
ستاسو په کومك وروڼو ستاسو په کومك وروڼو
مونږ ددیــن عـــکر اودنبیـــانو وارثـــان یو
مونږ مسلمانان یو مونږ مسلمانان یو
هغه څه مو راوړل چی هـــدف و دتـــام ملـت
دسر په بیه تاسوته دسرپه بیه تاسوته
لایه نه خوندی کړو دافغان ولـــس ملــی وحـدت
دسرپه بیه تاسو ته دسرپه بیه تاسوته
زیری دخوښی داپـــــادی په لــــور روان یـــو
مونږ مسلمانان یو مونږ مسلمانان یو
راشی دوطن په اباد‌ی کـــــی لاس ترلاســـه شو
قام ته سوکالی راوړو قام ته سوکالی راوړو
وران ویجاړ وطن ته معماران به له اخلاصه شو
قام ته سوکالی راوړو قام ته سوکالی راوړو
حڅ به مخ په وړاندی داسلام زلمــی پوځیـــان یو
مونږ مسلمانان یو مونږ مسلمانان یو
پیښور ۱۳۷۵/۷/۲۰

برق کابل ته ورسیدو!

سلطانی

دا ډیرڅرګند حقیقت دی چی دطالبانو داســلامی تحــریك لومــړی او وروســـتی پرمختګونه چی د برق اوبریښنا په څیر په پیړه دهیواد له جنوب پکتیا څخه بیا دهیواد تر مشرق ننګرهار، لغمان او کونړاناوپه سرویی اوماهیپر کابل ته ورواوتل، له سروبی څخه دفاع دکابل دفاع ګڼله کیده دکابل ائتلافی اداری هلته ماینونه ښخ کـړل او توپه لاری دترافیکو پرمخ وتړله اوهم ئی دماهیپرپل په بمونو والوزاوه ، خو هر څه دمحمدی لښکرپه وړاندی دشګوپند مثال غوره کړ.

داسلامی تحریك شارلمیانو «الله وجل جلاله» په نصرت دمتدین ملت په مرسته د سرښندونکو دینی طالب علمانو دشهادت اوتقدس په ښـهیزه عقیده دځمکی په سرمخ په وړاندی دبرق اوبریښنا په څیر په ماینونو باندی وروختل، دماهیپر په غرونو ورو‌ختل اوپه پلچرخی کښی یې هم دائتلافی ځواکونو لیکی وروماتی اوپه کابل کښی دنور اوبرق په څیر داسی رڼا خوره شوه چی په رښتیاهم ځان ته ئی د برق اوبریښنا صفت غوره کړی او دکابل ښاریانو ته ئی دارام اوپاسهولت ژوند پیغام ورکړ.

دکابل هغه خاینه ائتلافی اداره چی دکابل ښاریانو ته ئی دول دول ضررونه ، تهدیدونه متوجه وو اوپه هغوی دتوپونو اوراکټونو سیب شوی وه له مینځه یو وړله اودهغی ټول جنایات اوظلمونه ئی ښکاره اورسوا کړل.

دکابل ائتلافی اداری چی دخپل عمر په اوزدو کښی ئی دطالبانو داسلامی تحریك په وړاندی دمری زیری کښله هم نه واوریدلی اودپنجشیر شیر ؟؟؟ به دا ویل له کومه ځایه (کندهار) چی داطالبان راوتلی په هغه ځای به ئی بیرته ننه باسم خواوس دپنجشیر شیر ؟؟؟ په پنجشیر وزلوت دکابل په ائتلاف پوری تړل شوی صدراعظم کابل ته دطالبانو درسیدو په شپه داسی «له تکره وکه وینا وکړه چی دوی له جنګه پرته هیڅ دی اوس به په کابل کښی ورته پــه ګټیږی ؟ خو دهغی خبری په کوټو سره صدراعظم ساتنګونو نه رسیدلی و ،الحمدلله چی کابل ته دطالبانو په رسیدو سره ائتلافی اداری پښی سپکی کړی او دکابل اوسیدونکیو طالبان په کلونو بدرګه کړل.

دطالبانو داسلامی تحریك حیرانوونکی حرکت نه یواځی چی خپل مخالفین حیران کړی بلکی دنړی‌قوځی اوسیاسی کتونکی هم حیـران ګوته په غاښ په تعجب سره ورته ګوری ، حقیقت دادی چی داسلامی تحریك په وړاندی له ځینو بی خبره منابعو سره لاعلمی موجوده ده دغه خلقی دافغانستان له ټولنیز ترکیب ،عقیدوی توحید اوتاریخی ویاړلوکار نامو سره پیژندګلوی نه لری؟! ځکه ځینی یې علمه اوبی وقوفه خلك د طالبانو داسلامی تحریك اوحرکت په هکله نااشناسوالونه مطرح کوی لکه: دا

طالبان افغانان نه دی؟ دجهاد په وخت کښی نه ورودوی له مدرسو راتللی دتوپ ، ټانك اوجنګی ماشین استعمال چا ورته ښوالی؟

اودا هرڅه ئی له کومه کړل چی دجنګ توان ئی پیدا کړ.

له دی غونډ اشتباهی اووهمی تشویش څخه داسی څرګندیږی چی دغه خلك دافغانی ټولنی له ترکیب اوجوړښت څخه ناخبره او دافغانی دود ، کلتور ویاړلی کیفیت نه پیژنی داخو څرګنده خبره ده چی دافغانی ټولنی په ترکیب اوجوړښت کښی ملا اوطالب ، جوماټ او مدرسه ، درس اومدرس دافغانی ټولنی مذهبی اوعلمی محور تشکیلوی ، همدغه برخه دافغانی ټولنی لپاره په معاملاتو ، پریکړو اوفیصلو کښی یوه واحده مرجع او اداره هم ګڼله کیږی.

یا په بله اصطلاح افغانی ټولنه چی یوه بشپړه اسلامی ټولنه ده ، ملا ،طالب اوعالم ددی ټولنی په رغولو، اسلاح کولو، ژغورلو اورهبری کولو کښی دیوه ښتهیز عنصر حیثیت لری.

رښتیا هم دافغانی ټولنی دغه ویاړلی قشر (علماو اوطلبه و) په ټولنه اومعاشره کښی د علم اونورانیت پلوشی تل خپری کړی اودغه ټولنه ئی له مصیبتونو څخه ژغورلی ده، دخیر اوهدایت لوری ته ئی دعوت کړی ده، په ټولنه کښی ئی ښتهیر اورغیونکی

دول معاشی اومعاشرتی بداخلاقی، فسق اوفساد څخه ژغورلی ده . نو دافغانستان په ویاړلی تاریخ اوپه افغانی ټولنه کښی دعلما، نقش اوکړنلاره خورا روښانه ده.

دهیواد دتاریخ په هر خطر ناك پړاوکښی دټولنی دغی متوری برخی خپـل هیــواد اوهیوادوال له زیاتو ناوړه ګړسو څخه ژغورلی دی.

دمثال په ډول: دافغانستان له سیاسی اوجغرافیایی جوړښت څخه دانګریزانو تراستعماری تاړاکونو اودا‌ستقلال ترجنګه ! اوتردی وروستی لسیزی پوری چی د روسانو دنظامی اشغال په مقابل کښی ئی جهاد اعلان او دکمونیزم په خلاف ئی نه یواځی خپل هیوادوال بلکی نړی وال ئی راوپارول او دجهانی کمونیزم په خلاف ئی یو لړیوال پاڅون جوړ اودخپل هیواد په مینځ کښی ئی دجهاد سنګرونه دملت په مرسته ګرم اوکلك وساتل اودجهاد په اوږدو کښی ئی خپل ریښتنی رسالت سرته رسولی چی داله هیچا پټ نه دی.

ان تردی چی دکمونیزم له رنګیدو وروسته ئی په خپل هیواد کښی دکمونیستانو رژیم هم رانسکورکړ،خو دځینو جهادی ډلو دقدرت په سرهغه ناسری جوړی کړی چی دجهاد اهداف ځه؛ بلکی اسلامی اصول اوافغانی غیرت ئی هم تر پښو لاندی کړل چی داهم دچا نه پټ نه دی؛ په دی جریان کښی علماو دهغوی داصلاح لپاره ډیری زیاتی هلی ځلی وکړی، جرګی ئی ورته وکـړی، سـوالونه یې ورته وکړل

خوقدرت لیونیانو په هیڅ صرفه ونه کړه اوهیڅ عالم قرآنی وینا ته ئی غوږ ونه نیولو بلکی لاپه ئی علما ، توهـول او حتی وژل به ئی هم !! ترڅو ددوی داصلاح او دجهادی اعدائو دژغورلو لپاره دهیواد طالبان اوعلما،

پوځل بیا له مدرسو او جوماتونو څخه دخپل هیواد او هیوادوالو دژغورلو لپاره راپاڅیدل چی ددوی په جدوجهد اوسرښندونکو قربانیو سره دجهاد اهداف اودشهیدانو ارمانونه په ځای اودیوه سوچه اسلامی حکومت اوشرعی نظام پلی کولو سـتحکم حکومت جوړ کړی.

دا طالبان که څه هم له مدرسو راوتلی خو دجهاد ددوولسیزو په اوږدو کښی له هر افغان اوسیدونکی څخه یوولی پوځی عسکر جوړ شوی، دتوپ ، ټانك اوجنګی ماشین چلول هرافغان زلمی ته یوه اسانه اوعملی خبره ده بیا په تیره دطالبانو دغه توصیالی مشران لاله وړاندی دجهاد په لیکوکښی وتلی مجاهدین او قوماندانان وو چی دجهاد اثار اونښی یې اوس هم په وجود کښی لیدی شی ، دوی نن میدان ته نه دی راوتلی بلکی دوی د جهاد په اتشکده اوکره کښی پاخه شوی ائتلاق اومجاهدین دی، اوهم دوی داصحاب صـفـه نقش راژوندی کـړی دی، چی دتعلیم القران په وخت په مدرسه او دامامت په وخت په جوماتونو اودجنګ اوجهاد په وخت دسنګرونو اتلان اوقوماندانان دی، داسلامی نظام پاسپانان دی، اوهم دغه قدوه حسنه داصحاب صفه، په اسلامی تاریخ کښی پوځلانده باب دی.

اوهم له دوی سره بیا په تیره داسلامی تحریك په جریان کښی دجهاد دوخت ټوله وسله اومهمات ، وسایل اوامکانات په اختیار کښی ولویدل له کومو چی به وړاندی ډلو له دینه ناجایزه استفاده کوله. دتحریك اتلان اوس له هغوی نه جایزه اومشروع استفاده کوی اوپه دی شکل به دخپل هیواد ژغوروتکی اومعماران جوړیږی . انشاء الله

په افغانستان کی داسلامی ښوونی اوروزنی دمرکزونو تاریخی سیر

لیکوال: س.م .د. «هاشمی»

داسلام له راتګ څخه دمخکنو تر تاراکه

(۲۲هـ - ٦١٨هجری)

په افغانستان کی ددینی تعلیمانو دغه شپږ سوه کلن بهیر دمسلمانانو ددوهم خلیفه حضرت عمر«رض» دخلافت له وروستیو کلونو(۲۲-۲۳هجری) څخه زموږ دهیواد لوید‌ځو برخوته دعبدالله بن عامر په مشری داسلامی لښکرو اواسلام په راتګ سره پیل کیږی. د دریم خلیفه حضرت عثمان «رض» دخلافت په زمانه کی د اسلامی فتوحاتو په چټکتیا سره پرمختګ کوی. دحضرت علی

کرم الله وجهه په وخت کی دعبدالرحمن بن سمره په مشری‌اسلامی لښکری دسیستان له لاری کابل ته راغلی او په دغه ځای کی یې داسلام مقدس دین خپور کړ. همدارنګه په اموی (٤١هـ -۱۳۲هجری) اوعباسی (۱۳۲ هـ-٤٠٢هجری) دوروکی دالړی‌سوره هم پرمخ تللی او زموږ دهیواد په زیاتو سیمو کی داسلام مقدس دین خپور شوی دی. داسلام له راتګ سره ددینی تعلیمانو اودزده کړو ضرورت او ددینی علومو دزده کړی دمرکزونو موجودیت حتمی اولازمی خبره ده.

وروسته بیا په هرات کی دطاهریانو (۲۰۵-۲۵۹هجری) په سیستان کی د صفاریانو (۳٤٧-۳۹۳ هجری) ، په بلخ کی دساسانیانو (۲۷۹-۳۸۹هجری) غزنویانو (۳٥۱-٥۸۳هجری) ، سلجوقیانو (٤۲۹-٦۳۲هجری) ، غوریانو (٥٤٤-٦١٠هجری) او خوارزمشاهیانو (٤٩٠-٦١٨هجری) حیثوال اسلامی اوافغانی حکومتونه مینځ ته راغلی دی. ددغو حکومتونو پاچهانو اوحاکمانو نه یوازی په خپل هیواد بلکی بهر دهند په لویو اوپراخو سیمو کی هم داسلام دمقدس دین دخپراوی په لاره زیاتی هلی ځلی کړی دی چی دمثال په توګه دسلطان محمود غزنوی اوسلطان شهاب الدین اوغیاث الدین غوری

نومونه یادولی شو.

داخو څرګنده ده چی دغه دطاهریانو ،صفاریانو ،سامانیانو ،غزنویانو ،غوریانو اوسلجوقیانو او... دسلسلو ټول پاچهان اوحاکمان مسلمانان وو.

ددوی دحکومتونو دربارونه پخپله ددینی زده کړو سترمرکزونه وو. ځکه چی دوخت ستر ستر دینی عالمان اوپوهان په دغو دربارونو کی راټول شوی وو ، ددینی اوشرعی احکامو په رڼا کی به فیصلی کیدلی اوددینی مسایلو په هکله به ژوربحثونه کیدل.

دحکومتونو په مرکزونو ، لویو ښارونو اوتوابعو کی پرلوپو لویو مسجدونو برسیره دینی مدرسی هم موجودی وی، چی ډیرو طالبانو پکی ددینی علومو زده کړه کوله.

دتاریخ ګزیده مؤلف حمدالله مستوفی لیکی چی دغوری پاچهانو په دوره کی یوازی په هرات کی (۳۰۹) الوی وړی دینی مدرسی موجودی وی(۱).

ترغوریانو دمخه دغزنویانو په دوره کی به هم چی زموږ دهیواد په تاریخ کی په علمی اوفرهنګی لحاظ ځانګړی مقام لری داحال وو ، ځکه چی یوازی (۵۰۰) دینی عالمان اوشاعران دسلطان محمود غزنوی په دربارکی راټول شوی وو. اوهمدغسی دنورو مسلمانو پاچهانو اوحاکمانو دربارونه اوقصرونه هم وګڼی چی ددینی ښوونی اوروزنی زیات مرکزونه په پکی موجود وو ، خو دا چی دلته دهیواد دغزنوی دوره زیات تاریخی تکثر لري [illegible] اوس یوازی څو دګوتو په شمیر تاریخی کتابونه په لاس کی لرو چی

هغه هم زیاتره دوخت دحکمرانانو په ستاینو جنګی کسارنامو اونورو حالاتو ډك وی ، دتعلیمی دینی اوعرفانی وضعی په باب ډیر کم معلومات لری.

دهمدی پورتنیو ستونزو له مخی یې ونشو کــړای چی په دغی لومــړی برخی (۲۲هـ-٦١٨هجری) پوری مربوطو زیاتو دینی تعلیمی مرکزونو په هکله معلومات تر لاسه او درنو لوستونکونه یې وړاندی کړم (البته په وروستیو دوروکی بیا داستونزه ډیره نه لیدل کیږی) ددغی دوری ددینی تعلیمی مرکزونو په هکله چی ساله ځینو تاریخی کتابونو څخه څه معلومات ترلاسه کړی، دهغی له مخی دا وروستنه دینی تعلیمی مرکزونه تاسو درنولوستونکو ته دریږم:

دبلخ دزندان مدرسه:

بلخ زموږ دهیواد له لرغونو تاریخی ښارونو څخه دی چی دتاریخ په ټولو دورو کی یې خپل لوړ علمی اوفرهنګی مقام ساتلی دی. واعظ بلخی په خپل مشهور اثر«فضایل بلخ» کی ددغی تاریخی ښار دیوی مدرسی یادونه کوی چی په ۱۷۱ هجری قمری کال په بلخ کی د خراسان د والی جعفر بن محمد بن بن الاشعث له خوا جوړه شوی وه.

لیکوال وایی چی د« عبدالعزیز مقبری د اوینه مسجد ترڅنګ یوه ښکلی ودانی جوړه کړی وه چی هغه یې والی ته ورو‌بخښله. والی دغلته یوزندان هم جوړ کړ اوهغه وربخښل شوی ودانی یې مدرسی ته وقف کړه او مدرسه یې دزندان مدرسی په نوم ونوموله . چی ډیرو خلکو پکی ددینی علومو زده کړه کوله ، دی مدرسی یوه کتابخانه هم درلوده. »(۲)

د دربیستان مدرسه:

دربیستان مدرسه دغزنی له مشهورو مدرسو څخه وه دتأسیس تاریخ یې نه دی معلوم خودسلطان محمود غزنوی په وخت کی یې ډیر شهرت درلود. دتاریخ بیهقی مؤلف لیکی چی په دغه مدرسه کی دوخت ستر عالمانو تدریس کاوه اوډیر طالبان پکی په زده کړه بوخت وو. سلطان محمود غزنوی دغی مدرسی ته خاصه پاملرنه درلوده ، له لریو لریو ځایونو څخه به یې مشهور عالمان دلته دتدریس له پاره راوستل. یوه‌هغو له جملی څخه مشهور عالم اوفقهی بوصالح وچی سلطان محمود په۳۸۵ هجری قمری کال هغه وخت چی په خراسان کی سپهسالارو له نشاپور څخه دغی مدرسی ته دتدریس له پاره راوست. دغی مدرسی دمدرسینو اوطالبانو داستفادی له پاره ډیره غنی کتابخانه هم درلوده. (۳)

جامع غزنین یامسجد عروس الفلك:

دغزنویانو ددوری مشهور مؤرخ عتبی لیکی: « کله چی سلطان محمود غزنوی له هند څخه بریالی راستون شو په غزنی کی یې یو ډیر ښکلی او لوی جامع جومات جوړ کړ چی دری زره لسونځ کوونکی پکی ځاییدل. نوم یې پری عروس الفلك کیښود. سلطان په دغه جومات کی دعبادت له پاره ځانته بیله خونه هم جوړه کړه.

وایی چی دغه جامع جومات ددینی علومو دزده کړی لوی مرکز ؤ. ډیرو لویو لویوعالمانو به طالبانو ته دینی علوم تدریس کړل. (٤)

بوصالح مدرسه:

دغزنویانو د دوری مؤرخ عتبی وایی چی سلطان محمود غزنوی په غزنی کی دعروس الفلك دمسجد ترڅنګ یوه دینی مدرسه جوړه کړه چی سرمدرس اومهتمم یې مشهور فقهی عالم بوصالح و. ډیر لوی لوی عالمان یې دتدریس له پاره وګمارل شول چی یو دهغو له جملی څخه ابوریحان البیرونی و. په دغه مدرسه کی ډیر طالبان ددینی علومو په زده کړه بوخت وو. ټول لګښت دحکومت له خوا ورکول کیده. وایی چی . سلطان ډیره ځمکه ددغی مدرسی دلګښتونو له پاره وقف کړی وه طالبانو ته دزده کړی ډیری اسانتیاوی برابری شوی وی . مدرسی لیلیه ، دمطالعی خونی اویوه لویه کتابخانه درلوده چی مدرسینو اوطالبانو ورڅخه ګټه اخیستله. (٥)

دخواجه أمیرك مدرسه:

دامدرسه هم دغزنویانو په وخت کی په غزنی کی وه . بنسټ ایښودونکی یې امیرابوالحسن احمد بن محمد بیهقی (٤٤٨هـ ق مړ)دی. نوموړی په امیرك مشهور و. اودغزنویانو په حکومت کی زیور اومشهور عسکری منصبدارو، چی ۱۵کاله یې د ترمذ کلا د سلجوقیانو له سلطی څخه وساتله . کله یې چی له غزنویانو څخه دمرستی امید قطع شو کلابی پریښوده ، غزنی ته راغی او دلته یې پخپل لګښت یوه مدرسه جوړه کړه ، ډیر عالمان یې پکی په تدریس وګمارل اوزیات شمیر طالبان په کې زده کړه بوخت شول. دغی مدرسی ډیره لویه کتابخانه هم درلوده. (٦)

دبلخ نظامیه مدرسه:

دتاریخ بیهقی لیکوال په پنځمه هجری پیړی کی دبلخ دنظامیه دمدرسی یادونه کوی اوبنسټ ایښودونکی یې نظام الملك بولی. وایی چی دابوه دینی مدرسه وه چی ددینی علومو ترڅنګ پکی پوځی اوسیاسی زده کړه هم کیدله.

دغی مدرسی یوډیره لویه کتابخانه درلوده اوډیر شمیر طالبان پکی ددینی علومو په زده کړه بوخت و . نوموړی عالم او شاعر رشید الدین وطواط ددی مدرسی له شاګردانو څخه و. ویل کیږی چی دغه مدرسه تر ٥٥٠هجری کال پوری فعاله وه په دغه کال ده غزانو » دحملی اوفتنی په سبب کی په کنډواله بدله شوه.(۷)

(٤) مخ

در شهر کابل در قیمت مواد مورد ضرورت قابل ملاحظه کاهش امده اند

خبر نگار ما از شهر کابل اطلاع میدهد که نرخ ونوا در آن شهر طور سرسام آور پائین آمده اند.

خبر نگار می افزاید از همان روزیکه تحریک اسلامی طالبان اداره فاسد السبق را از پا درآورد ویک نظام واقعاً اسلامی وملی در مملکت مستقر گردید مردم مطمئن گردید که بعدازین اجناس واموال مورد ضرورت اوشان بصورت احسن بدست آورده میتوانند از نیرو از احتکار مواد غذایی ودیگر اجناس خود داري نمودند.

خبرنگار میگوید یك سیر آرد که در وقت اداره مخلوع ورانده شده به قیمت ۳۵۰۰۰هزار افغانی میسر میشد اکنون قیمت آن به ۱۵۰۰۰ پانزده هزار افغانی کاهش یافته اند، به همین منوال درقیمت مورد ضرورت مردم از هر قبیل قابل ملاحظه کاهش آمده اند.

امنیت ومصئونیت در شهر کابل حکمفرماست

بعداز سقوط اداره اسبق کابل در شهر کابل امنیت ومصئونیت سرتاسری تأمین گردیده اند.خبرنگار ما از شهر اطلاع میدهد که انعده حرزه فروشانیکه ذریعه کراچي مواد مورد ضرورت مردم از قبیل میوه ودیگر اموال در پهلوي سرك ها به فروش عرضه میدارد ضرورت ندارد که کراچي دست داشته خود را به خانه ببرد ویا اجناس واموالیکه میفروشد همراي خود بخانه انتقال دهد. زیرا امنیت ومصئونیت بطور کامل تأمین است وهیچ کس قدرت اینرا ندارد که در اموال واجناس مردم مداخله کند.

خبرنگارمي افزاید بدین ترتیب مردم غریب وستمدیده شهر کابل بعدازین به زندگي ارام واسوده خود دوام میدهند.

دشمال دتوتونو ...

کی سره وجنګیدل او بره لاس لوري ته یې داسي درانه تلفات ورواړول چې حیره کیداي نه شي ، اوس هم ددوي پیروان په خپلو کې یو په بل باور اواطمینان نه لري ځکه چې دشمال څو زره پوځیان دمسعود په لاس وژل شوي هم دارنګه دحزب وحدت اومسعود ترمنځ هم هاغه څه شوي چې تاریخ ورڅخه انکار نه شي کولاي.

لوپه داسي حال کې ددغو ملیتونو ترمنځ دریدلي تړون ددوام امکانات ډیر لږ دي.

که دمزار په غونډه کی

ګیلاني وویل : په شمال کې ددوي نظامي تړون دطالبانو په خلاف نه بلکي دټول ملت په خلاف یې دجګړې تړون وکړ ، اوبیا یې یو داسي غونډه راوبلله چې نه اشخاص او نه معیارونه پکښې مشخص شوي دي.اوکه په دې غونډه کې طالبان برخه واخلي بیا هیڅ اهمیت نه لري.

دوښان که بیاهم ...

هرسره تر لاسه کوي دا ددې معنی نه لري چې دوي مستقیماً د روسانو د ګوډاګیانو په صف کې [illegible] منفور کیږي او [illegible] برخه کیږي.

روسیه د نوی اتحاد...

طالبان له سالنګ څخه رااوښتي شي، روسي اخبارونو دروس واکدارانو ته مشوره ورکړي ده چې دا افغانان دي، اوچا چې په افغانستان کښې مداخله کړي ده نو هغوي ته یې [illegible] دي.

داسلامي انقلاب ه ...

محمد أنس دواړ له خوا په هیواد کې داسلامي نظام دټینګښت له امله [illegible] اوهمکاري وعده ورکړه .

په مقابل کې محترم مولوي احسان الله احسان له اسلامي دولت سره دمحترم قاضي محمد امین وقاد او دهغه دملګرو له [illegible] اوهمکاري له مننه وکړه. وې ویل: مونږ چې دشرعي نظام دقیام لپاره راپورته شوي اوالله په نصرت اودخپل مسلمان اومجاهد ملت په ملاتړ پرمخ ځو اوترهغې پورې به دوام ورکړو تر څو خپل هدف ته ورسیږو.

ده وویل: هغه کسان چې دجهاد اهداف یې دخپلو شخصي ګټو لپاره وکارول اوله شرعي ضوابطو نه یې انحراف وکړ نو ذلیل اوشرمنده شول.

ده زیاته کړه داسلامي انقلاب دسالتي لپاره ټولو صالحو شخصیتونو ته ضرورت دي اوطالبانو اسلامي تحریك به ټولو هغو کسانو ته دکار کولو موقع ورکوي چې دکار اهل وي.

موټر غوارو چې په ...

کیسي یې مانه، کیږي ویلي دي چې که وسلې اوبیت المال ته وړي شیان تسلیم کړي و مشکل حل دي طالبان ورسره څه نه لري مګر که دا کاروته کړي بیا مجبوره دي چې دخپل دفاع وکړي.

محترم متقي دیوي بلي پوښتني په ځواب کي وویل: مونږ یې باور یو چې انشاء الله جنګ به نه کیږي او کوښښ کوو چې مشکل دمذاکرو او دخبرو له لاري حل کړو ده وویل چې انشاء الله جنګ به نه کیږي او کوښښ کوو چې مشکل دمفاهمې اوخبرو دلاري حل کړو ، ښاغلي متقي دتیرو دوو ورځو دجنګونو په ارتباط وویل چې اوس مسلسل په سیمه کې قرارې ده او جنګونه تښتنه طالبانو د سالنګ اوشاوخوا سیمو کي مسلط دي. اوګوسمه سیمه یې دلاسه نده ورکړي.

په افغانستان کي ښوونې او روزنې ...

خلیلیه مدرسه:

د «فضایل بلخ» کتاب لیکوال دخلیلیه په نوم یوه دیني مدرسه راپیژني چې په بلخ کې وه . دغه مدرسه قاضي القضات خلیل بن احمد اسماعیل شجري چې په ابوالخیر مشهور او په ۴۸۱ هـ ق کال مړ دي، جوړه کړې وه. ډیرو طالبانو پکې ددیني علومو زده کړه کوله او دابوالخیر په شمول دپیاوړو او مشهورو عالمانو له خوا ورته تدریس کیده. (۸)

شهرافیشن مدرسه:

دطبقات ناصري لیکوال منهاج السراج جوزجاني په خپل تاریخ کي دشهرافیشن په نوم دیوی دیني مدرسي یادونه کوي چې سلطان غیاث الدین غوري په شپږمه هجري پیړۍ کې په غرجستان کې جوړه کړې وه. ډیر طالبان پکې په زده کړه بوخت او مشهور مدرس یې صدرالدین علي هیضم نیشاپوري و. چې کله سلطان غیاث الدین شافعي مذهب شو، نوموړي ورڅخه خفه شو اوپه مدرسه کې یې تدریس پرېښود، نیشاپورته لاړ او بیا وروسته سلطان بیرته غور ته راوست او دتدریس چارې یې ورو سپارلې.(۹)

دهرات مدرسه:

دروضات الجنات في اوصاف مدینة الهرات مؤلف معین الدین محمدزمجي اسفزاري لیکي چې سلطان غیاث الدین غوري په ۵۹۷ هجري کال دهرات مدرسه دنوماني عالم امام فخرالدین رازي له پاره جوړه کړه او نوموړي یې ددې مدرسي سرمدرس اومهتمم وټاکه. په دغه مدرسه کې ډیر طالبان ددیني علومو په زده کړه بوخت وو. او د زده کړې ډیر سهولتونه ورته مهیاوو . مدرسي یوه لویه کتابخانه درلوده چې مدرسینو اوطالبانو ورڅخه استفاده کوله.(۱۰)

سرحوض مدرسه:

دطبقات ناصري لیکوال دسرحوض په نوم دیوی مدرسي یادونه کوي چې په سیستان کې وه او دنیمروز دپاچاهانو دلړی شپږم پاچا بهرام شاه په وخت کې په ۶۱۰هجري قمري کال جوړه شوي وه.

ډیر طالبان په کې زده کړه بوخت او دخپل وخت ډیره مشهوره مدرسه وه .(۱۱)

ډیره لویه کتابخانه یې درلوده چې د «سیرکتابخانه ها در افغانستان» کتاب مؤلف یې په خپل کتاب کې راپیژني .(۱۲)

مأخذونه

د لوسیې برخې په لیکنه کې له دغو مأخذونو څخه استفاده شوي ده:

(۱) تاریخ گزیده، حمدالله مستوفي، تهران چاپ ، ۱۳۳۹هـ ش کال ،۷۰۴مخ
(۲) فضایل بلخ ، واعظ بلخي ، تهران ، ۱۳۵۰ هـ ش ، ۳۶مخ
(۳) ابن فندق، تاریخ بیهقي ،تهران چاپ ، ۱۳۱۸هـ ش، ۱۲۰-۱۲۱مخونه .
(۴) سعید نفیسي درپیرامون تاریخ بیهقي ، ۱۳۴۲هـ ش ، لومړی ټوك ، ۳۵۵مخ.
(۵) کتابخانهای علوم وثقافت اسلامی در افغانستان ، محمد یوسف ارزق ، ۱۳۷۰هـ ش کابل ،۱۷مخ.
(۶) مسعود سعد سلمان، داشعارو دیوان درشید یاسمي په زیار ، تهران ،۱۳۳۹هـ ش ، ۱۸مخ.
(۷) تاریخ بیهقي ، ۲۰ او ۱۷۵ مخونه.
(۸) فضایل بلخ ، ۳۳۳ مخ.
(۹) طبقات ناصري ، جلد اول ، ۶۲-۶۴ مخونه.
(۱۰) معین الدین محمدزمجي اسفزاري، روضات الجنات في اوصاف مدینة الهرات ، تهران، ۱۳۳۸ ، جلد اول ، ۳۳ مخ.
(۱۱) طبقات ناصري ، جلد اول، ۲۸۲مخ.
(۱۲) سیر تاریخي کتابخانه ها در افغانستان ، نیلاب رحیمي ، ۱۳۶۱ هـ ش کال ، ۱۴۸مخ.

نور بیا

اسلام دښمنه عناصر اسلامي نظام نه شي برداشت کولي

دا یو څرګند حقیقت دي چې داسلام په چوکاټ کې ژوند تیرول یو اسان کار نه دي په یو اسلامي جامعه کې هغه څوك ژوند تیرولی شي چې هغوي دنیکونو نه دالله «ج» ددین پیروان وي خو دافغانانو تاریخ کې داښتنه چې افغانانو دي دغیر مسلمو یا ظالمانو حکومت منلي وي ځکه چې هغوي دپیریو پیریو راپدیخوا په اسلامي جامعه کې ژوند تیرکړي دي او اوس هم دطالبانو اسلامي تحریك ته په هر ځاي کې تود هرکلي کوي اودطالبانو اسلامي نظام ته ډیر خوشحاله دي.

کوم کسان چې اوس له طالبانو سره په جګړه بوخت دي ددي لپاره چې په اسلام کې خو عدل اوانصاف دي اوهغوي عدل اوانصاف نه شي برداشت کولاي ځکه چې هغوي په مظلوم ملت داسي ظلمونه کړي چې په هیڅ ځاي کې هغوي دخپل ځان دوخت تیریدلو ځاي نه لري د جنګ اوجګړې نه هغوي بله لاره نه لري.

اوځیني کسان چې ټول عمر یې په دهریت اوکفري ملکونو کې تیر کړي وي نو هغوي ته داسلامي قوانینو نافذول یو نوي کار ښکاري ځکه چې هغوي دعیش اوعشرت نه بل څه نه وي لیدلي اودوي داسلامي قوانینو نافذ ولو ته ظلم وایي .

تیره ورځ دپخواني کمونست حکومت یوطرفدار له کابل نه راغلي خلق ترې نه راتاوشول اوتپوسونه یې ترې کول چې په کابل کې څه حال دي په دي کال کې زه هم ولاړوم دا کابل نه راغلي کس ورته وویل چې طالبانو خو ډیر سخت ظلم شروع کړي نو ماترې نه تپوس وکړ چې څه ظلم یې کاوه ده وویل ظلم خویې داؤ چې مونږ به یې و [illegible] لمانځه لپاره جومات ته بیولو او زنانه وښاندي یې په ښار کې دګرځیدلو بندیز ولګولي اوپه کورونو کې یې بندي کړي وي دزنانه وو مکتبونه یې بند کړل دده دې خبري سره ولاړ خلکو پرې ټولو وخندل اوورته یې وویل چې ایا همدا ظلم طالبانو شروع کړي نو اوس چې په کمونستانو اوملحدینو باندي اسلامي قوانین نافذ وي هغوي دي کارته ظلم وایي که چیرې دکمونستانو وملحدینو په خوښه کوم کار وکړي اګر که هغه ظلم هم وي خو هغوي ورته ظلم نه وایي.

نو مونږ استاد رباني ته وایو چې تا داسلامي دولت ناري وهلي اوویلي دي چې مونږ اسلامي حکومت جوړ کړي دي نودي ته خواسلامي حکومت نه وایي چې ښځې دي بې پردي ګرځي شراب دي څښل کیږي اوښځې اونر دي په یو اداره کې کار کوي نو دداسي تش په نامه داسلامي اداري په مقابل کې قیام لازم وي اوټول ملت نه داهیله کوو چې دداسي بهرنیو ایجنټانو په مقابل کې راپورته شي اوخپل پاك وطن له ناپاکو اوظالمو انسانانو نه خلاص کړي.

دطالبانو ددي اسلامي نظام دنافذولو سره ټول کفري ملکونه په ویره کې راغلي اوځیني کسان چې طالبانو پسي تخریب کوي هغوي صرف دشخصي ګټو لپاره ځکه چې هغوي به افغانستان کي دافغانانو په وینو تجارت کاوه هغه تجارت اوس بند شو نو ځکه دوي تخریب کوي چې تخریب کوونکو انجام به هم ډیر خراب وي.

اصلاحي شوری دطالبانو دمشرتابه هیئت ته لیکلي وړاندیزونه ورکړل

اصلاحی شوری په روسانو غږ وکړ چې نور دی زمونږ په کورنیو چارو کی لاس وهنه نه کوی

دمیزان په ۱۲ نیټه دپنجشنبې په ورځ د ډاکټر فاروق اعظم په مشرۍ اصلاحي شورى یو هیئت دطالبانو له مشرتابه سره دلیدو کتنو لپاره دجلال آباد له لارې کابل ته ولاړ.

هیئت په ننګرهار کې دهغه ولایت له والي محترم مولوي عبدالکبیر سره وکتل اودهیواد دحالاتو په اړه یې ورسره ګټوري خبري وکړې . هیئت وروسته کابل ته ولاړ اوهلته یې دطالبانو دمشرتابه له هیئت سره وکتل اوهغوي ته یې دکتنې په جریان کې داسلامي تحریك دتقویې اواسلامي نظام داستحکام په اړه خپل وړاندیزونه ورکړل چې دمشرتابه دهیئت له خوا تر غور لاندې ونیول شول.

داصلاحي شوري هیئت دهیواد دروان حالات اوپه هیواد کې ددولتي چارو دسمبالښت په اړه په لسو مادو کې خپل وړاندیزونه دطالبانو دمشرتابه هیئت ته ورکړل.

په هیئت کې له ډاکټر فاروق اعظم سره دغه کسان ملګري وو:

وکیل عبدالوهاب خان «حصارك» ، ښاغلی غلام نبي «چکنوری» ، حاجي غلام دستګیر «بابکرخیل»، حاجي فقیر محمد «بابړی» ، حاجي رستم خان «جبارخیل» ، جنرال محمد یعقوب خان قاري حفیظ الله «شینواری» ، دکامی ملك دلاورخان ، قاضي محمد شریف «اسحق زی» ، صاحبزاده محمد عمر «بتوری» ، جنرال ګل زرك «ځدران» ، مامور عبدالقادر اوانجنیر محمد عمر «شینواری».

ددښمنانو تبلیغات ...

اوښکرور دروغ چې ګویا طالبان دپخواني اداري خلك نیسي اوپه ماینونو باندي یې ورخیژوي یې بنیاده خبري ویللي. دیوبل سوال په ځواب کې ښاغلي متقي وویل: زمونږ ملت په داوطلبانه توګه په خپله خوښه اماده دي چې د رباني نسکورشوي حکومت دبقاياو په ضد خپل اسلامي دندي ترسره کړي اوقرباني ورکړي. داچې دښمن سخته ماتې خوړلي او وارخطا دي اوتر اوسه یې څه شي ترلاسه کړي ندي، کومې خبري چې دوي کوي ټولي دروغ دي اوکوم حقیقت نلري. زمونږ دطالبانو ترکنټرول لاندي په سیمو کې په بشپړه توګه سوله اوامنیت تأمین دي خلك په ډیر اطمینان سره خپلي ورځنۍ چارې پرمخ بیایي.

دطالبانو په مقابل ...

طالبانو په لاس اسلامي حکومت جوړشوي اوهلته شریعت نافذ شوي دي، نو باید تر دي وروسته استاد رباني، انجنیر حکمتیار او دوستم دجنګ لاره پریږدي.

ده وویل دطالبانو په مقابل کې چې څوك ګرګه ښکاره کوي هغه دافغانستان په کورنیو چارو کې دلاس وهنې معنی لري او هغوي غواړي چې افغانانو ته دخپلي خوښې قانون جوړ کړي.

ده وویل: دافغانستان دټولو بدبختیو اوبدمرغیو اصلي مسئول پخواني شوروي اتحاد اودهغه کمونست انقلابیان دي. ده دښځو دښوونې او روزنې په اړه وویل چې اوس دجنګ حالت دي ، نو په دغسي شان حالاتو کې په کورونو کي دنجونو کیناستل هم ددوي اوهم ددغو کورنیو او هم دټولني په ګټه دي.

که چیري طالبانو سره دملت ...

دروسانو دهغه نظر اوبیان په اړه په تفصیل سره خبري وشوي چې هغوي ویلي وو طالبان غواړي چې دمنځنۍ آسیا خپلواکو اسلامي هیوادونو ته لاس وغځوي.

دشوري برخه والو دروسانو مشرتابه ته خبر داری ورکړ چې افغانان لکه څنګه چې دنورو په کورنیو چارو کې لاس وهنه ناروابولي دغه شان پخپلو کورنیو چارو کې هم دبل چا لاس وهنه نه شي زغملی. نو داچې روسان بیا هم دافغانانو په کورنیو چارو کې لاس وهنه کوي دا ددې معنی لري چې په افغانستان کې یې خپله تاریخي ماتې هیره کړې ده .

دوی وویل: که چیرې له طالبانو سره دملت داکثریت ملاتړ نه وای نو دومره چټك پرمختګ یې نه شو کولاي، اوس چې دوی دهیواد له ډیرو برخو په کنټرول کې لری دا ددې معنی لری چې ملت یې ترشا ولاړ دی، خو که څوك ورسره مخالفت کوي هغوي هم افغانان دي اوافغان دافغان په خبره ښه پوهیږي. خو روسانو او نورو دولتونو ته ددې اجازه نشته چې زمونږ دکورپه خبره کې مداخله وکړي.

دوی وویل: په دغه شان مسایلو کی نړیواله ټولنه اودافغانستان مسلمان ګاونډي هیوادونه دجنګي حالت دله منځه وړلو او دافغانانو دخوښې مطابق دیو نظام دپیشنهاد په اړه دسیمه ایز مصلحت له مخي خپل غږ پورته کولای شي نه داچې دروسانو غوندي دافغانانو تاریخي دښمنان په دی باب دکوم تصمیم دنیولو جسارت وکړي.

ایران دزمونږ داسلامی اصولو توهین نکوی...

مظاهره کوونکو دایران دحکومت پرمشرانو غږ وکړ چې زمونږ داسلامي اصولو توهین دي نه کوي او د یوه مسلمان ګاونډي هیواد په توګه دي زمونږ په کورنیو چارو کي له لاس وهنو څخه ډډه وکړي.

مظاهره کوونکو روسانو ته په افغانستان کي د دوي شرمیدلي ماتي وریه زړه کړه اوله هغه هیواد څخه یې وغوښتل چې باید دتیري لسیزي شرمیدلي ماتي اودخپلي امپراتوري دړې وړې کیدل هیر نه کړي اوکه غواړي چې بوځل بیا په همانغه سرنوشت اخته نه شي نو زمونږ په هیواد کي دي له لاس وهنو څخه په کلکه ځان وساتي.

همدارنګه دوي دهند حکومت هم په افغانستان کې دبې ځایه لاس وهنو ناوړه عواقبو ته متوجه کړ. دوي دامریکا له متحدو ایالاتو او دملګرو ملتونو له موسسې څخه وغوښتل چې دافغانانو په اسلامي اصولو دي اعتراض نه کوي او افغانان دې پریږدي چې دخپلي اسلامي عقیدي اوافغاني رواياتو له مخي خپل برخه لیك تعقیب کړي.

مظاهره کوونکو وویل: دامریکا متحده ایالات اوملګري ملتونه که له افغانانو سره بشري مرستي کول غواړي، نو هغه دې دکوم شرط تابع نه ګرځوي اوپه دې توګه دې دبشر دوستي پروګرامونه دشرطونو تر شعاع لاندي نه راولي.

مظاهره دسهار له اتو بجو څخه دغرمې تر دوولسو بجو پوري روانه وه اوبیا یې دملګرو ملتونو دفتر ته یو پریکړه لیك وسپاره چې په هغه کې دغه مواد شامل وو:

لومړي داچې: افغانانو څه ناڅه دوه میلیونه شهیدان ددې لپاره ورکړي دي چې په هیواد کې یې اسلامي نظام منځ ته راشي، نو مونږ له ملګرو ملتونو څخه په کلکه غواړو چې پخپل معیار کې ددوي اسلامي اصولوته ځاي ورکړي او نور دي دافغانستان پر اسلامي دولت چې دملت داکثریت په خوښه منځ ته راغلي دي اعتراضونه ، نه کوي.

دویم داچې: له ملګرو ملتونو څخه دافغانستان ملت په کلکه غواړي چې زمونږ په هیواد کې ټولي بهرني لاس وهنې په تیره بیا دایران او روسي مستقیمي مداخلې بندي کړي ځکه چې ایران او روس هم دافغانستان د اسلامي دولت نه مخالفو ډلو ته سره تیغ په تیغه مرستې کوي، نو مونږ په کلکه غواړو چې له دغو بې شرمانه لاس وهنو څخه دې لاس واخلي، خو که دا ونه شي، نو افغانان هر ډول مقابلې ته تیار دي.

دریم داچې: ټول نړیوال باید په دې خبره پوه شي چې افغانان تربل هر چا زیات دښځو په حقونو ښه پوهیږي اوکوم حقوق چې اسلام ښځوته ټاکلي دي افغانان به قدم په قدم هغه تعقیبوي.

څلورم: له ملګرو ملتونو څخه غوښتل کیږي چې دافغانستان د راپرزول شوي دولت کوم نماینده دافغانستان دنماینده په توګه په ملګرو ملتونو کې کیناستو ته پرې نږدي.

مظاهره کوونکو دغه شعارونه له ځانونو سره درلودل:

مونږ پخپل هیواد کې اسلامي نظام قائمول غواړو.

مونږ پخپل هیواد کې دشریعت ترنظام لاندي ژوند تیرول غواړو.

مونږ په خپل هیواد کې هیڅ ډول بهرني لاس وهنې نه شو زغملي.

مونږ داسلام او وطن په لارکي هر ډول قرباني ته تیار یو.

خبرتیا

ټولوهغو جهادي شاعرانوته چې دجهاد اومجاهدینو په ارتباط یې شعرونه اونظمونه لیکلي وي اوپه ځانګړي توګه هغه شاعران چې دطالبانو داسلامي تحریك په ارتباط یې نظمونه اوشعرونه لیکلي وي خبرورکول کیږي چې دژوند لنډ حالاتو اوطالبانو داسلامي تحریك په ارتباط جوړ کړي نظمونه اوشعرونه مونږ ته په لاندي پته راولیږي، ترڅوېي دچاپولو لپاره لازم تصامیم ونیول شي.

دخوست ولایت داطلاعاتو اوکلتور ریاست

دګڼون بیه	شپږ میاشتني	کالني
پاکستان	Rs.200	Rs.400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا وامریکا	US$75	US$150

یادونه

شاید ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چې دا ډول سپیڅلې پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوي.

(اداره)

داسلامي نظام داهدافو په وړاندي منفي عکس العملونه

دکابل تاریخي ښار ته دطالبانو داسلامي تحریك مجاهدین د سنبلې په ۲۷ نیټه ورننوتل، نوله ټولو ړومبي یې داسلام ښکلي اوټول بشریت دهر اړخیزې سوکالي نظام نافذ اوښار امنیت یې په جدي توګه ټینګ کړ دښار ټولو اوسیدونکو ته یې عمومي عفوه اعلان او دپخواني نامشروعي اداري ټول هغه مقررات اوقوانین یې لغوه کړل چې داسلام دمبین دین له احکامو اومقرراتو سره یې ټکر خوړ، دکابل له خلکو غوښتنه وشوه چې داسلام دمبین دین ټول احکام په بشپړ توګه عملي اوپه خپلو ځانونو ومني، له ښځو څخه غوښتنه وشوه چې په خپلو کورونو کي کښیني اوپه بازار کي ګرځیدونکو خویندو میندوته اعلان شوه چې دګرځیدو په وخت اسلامي حجاب کلك مراعات کړي، اوهمدا ډول په پخواني اداره کي کار کوونکو ښځوته په کورونوکي ددوي دمعاش ورکولو اعلان هم صادر شو ، ددي ټولو تاریخي کارنامو د سرته رسولو په جریان کي نه دچا مال چور شوي نه په چا تعرض شوي او نه یې ناموس له خطر سره مخامخ شویدي اونه څوك په دي جریاناتوکي له کومي غموونکي اوناوړه پیښي سره مخامخ شویدي اوپه دي.توګه دهیواد په مرکز کي له اوږدي مودي وروسته د ړومبي ځل لپاره دیونیم ملیون شهیدانو اودلکونو کونډو یورو او یتیمانو ستره هیله ترسره اوداسلامي حکومت دجوړیدو امیدونه یې وریږیدل، هیوداوالو په دي بختوره ورځ دشکراني لمونځونه آدا کړل، خیراتونه وشول، صدقي وویشل شوي چې البته دا ددي ښکارندوي ده چې دکابل خلك له پخواني نظام څخه څومره تنګ شوي وو په کوم کي چې نه ددوي ځان محفوظ ونه یې مال خوندي و اونه یې ناموس.

خوکفري نړي او په رأس کي غرب، چې تل لپاره یې له اسلام اومسلمانانو سره ژوره کینه لرلي اوتل لپاره یې ورسره دښمني اعلان کړي او هر وخت یې داسلام او دمسلمانانو دله منځه وړلو اویا بدنامو لو لپاره هره دسیسه کارلي اوهر شوم پلان یې په کار اچولي او دتل لپاره یې اسلام په بدرنګ اوغلط شکل کي خلکو ته وروپیژندلي دي، نه یوازي دا چې دطالبانو په لاس جوړ شوي اسلامي حکومت په ضد ئې پوچ اوبې بنیاده تبلیغات پیل کړل، بلکي ټولې کفري نړي ددي اسلامي حکومت د بدناموولو اوپه غلط شکل کي دمعرفي کولو لپاره ئې دتبلیغاتو یوه ګډه جبهه جوړه کړه ، اودمطبوعاتو توله توجه یې دېته راګرځولي ده چې دطالبانو په لاس ددي جوړشوي حکومت کلکه مخه ونیسي، ترڅکه یې دطالبانو په ټولو مثبتو اوپرځاي کارنامو سترګي پټي کړي اویوه معمولي اوفرعي موضوع په ډیر زور اوشور سره بدرګه کوي اوترېوالوته داسي ښئي چې ګنې طالبان دبشر دحقوقو خلاف عملونه ترسره کوي دښځو حقوقو ته احترام اودرناوي نه لري ښځوته دزده کړې کار کولو کور اوفامیل ته دنفقي دپیداکولو موقع نه ورکوي، اوداسلامي دولت له خوا په ښځو لګول شوي اسلامي بندیزونه دنړیوالو نور مونوخلاف اودبشر دحقوقو ضد عمل بولي.

کفري نړي داسلامي دولت له خوا لګول شوي معقولو اوپه ځاي بندیزونو په ضد دومره تونده اوتیزه مبارزه پیل کړي چې نړیوال ذهنیت یې دیته را اړولی دی چې ګنې یوازي په افغانستان کي دطالبانو اسلامي دولت دښځو حقوقو ته درناوي نه کوي اوپه اصطلاح نور په ټوله نړي کي خیر خیریت اودښځو ټول حقوق محفوظ هم دي، دغرب دابی ځایه اوداسلام په ضد تبلیغات، دومره تونددي چې له بده مرغه زیات تعداد مسلمان یې تراغیزي لاندي راوستلي اوپه شعوري اوغیر شعوري توګه له غربیانو سره په ګډه سندري غږوي.

په هیواد کي دښځو دحقوقو مسئله هغه وخت لاجدي اوتونده شوه کله چې دملګرو ملتو خاص استازي ډاکټر ناربرت هول کابل ته فوق العاده اوپه مکرر ډول سفرونه ترسره کړل ګړندي بیرندي متدي رامنځ ته یې ووهلي ، اوپه هرواري داسلامي دولت له مسئولینو اولوړو مقاماتوسره دخبرو په اجنډا کي دښځو دحقوقو مسئله دغې تورې په حیث په جدي توګه مطرح کړه، نوموړي په هر وار غوښتنه وکړه چې دښځو په کار کولو اود نجونو د زده کړو په باب لګول شوي بندیزونه دطالبان بیرته واخلي اوپه اصطلاح د تیرو رژیمونو په څیر آزادي دي ورکړي تر څوپه یوه ټولګي اویوه دفتر کي ښځه اونر په ګډه زده کړه اوکار وکړي، کوم چې زمونږ له اسلامي اصولو څخه سل په سلو کي خلاف او زمونږ دټولنیزو عنعناتو حرګند سرغړاوي دي ، نور نوپه دي منځ رامنځ کي د داکتر هول سره څه نوي اوتازه خبري نه وي اوداسي ښکاریده لکه چې هول یوازي دښځو دحقوقو په غوښتنه مامور شوي او نور کوم مسئولیت نه لري ، ناربرت هول دخلکو په سترګو کي دخاورو دشیندلو لپاره داسي تبلیغوله چې ګنې دملګرو ملتو سازمان دکابل دهغو ۲۵زرو کونډو د دودي اونفقي په غم اوسکي کوبوي دکومو میړونه چې په تیروخپل منځي جګړو کي له منځه تللي دي .

ناربرت هول نه یوازي دا چې داسلامي دولت له خوا په ښځو لګول شوي بندیزونه په غلطه ترجماني کړي بلکي دطالبانو ټول معقول اوپرځاي اقدامونه یې هم دبشر دحقوق خلاف و باطل او ګواښونه یې وکړل چې که چیري طالبان په ښځو لګول شوي بندیزونه بیرته وانخلي نو دوي به په افغانستان کي ټولې مرستندویه پروژي وتړي اوپه دوي به کومکونه قطع کړي.

خو وړاندي له دي چې دداکتر هول پرځاي قضاوت اوتي بوتي ، ګواښونه اوتهدیدونه په دیپلوماتیکي لحاظ ارزیابي کړو لازمه ده دښځو دزده کړو په باب دطالبانو داسلامي تحریك دعالي شوري له خوا لګول شوي بندیزونه توضیح کړو، اوهغه داچې دطالبانو داسلامي تحریك دعالي شوري له خواپه مکرر ډول ویل شویدي چې دنامسو شرایطو په اساس په مؤقت ډول د نجونو دزده کړې مرکزونه تړل شوي دي ترڅو شرایط برابر شي ددوي دزده کړو لپاره به لازم تصامیم ونیول کیږي. همدا ډول دطالبانو له خواد ټولو افرادو ټروي که ښځه ، حقوقوته په احترام قائیلدو اعلانونه شوي.

داسلامي دولت دا پریکړي اوبندیزونه نه یوازي معقول اوپرځاي اود اسلام دمبین دین له احکامو سره برابر دي بلکي په عین وخت کي دبشر دحقوقو درناوي اوهغوي ته احترام دي ځکه دبشر دحقوقو په سلسله کي یوازي د ښځې د زده کړي موضوع دومره جدي نده مطرح شوي څومره چې دښځې دپت عزت شرم او حیا موضوع مطرح شویده ، او همداډول د زده کړي نه وړاندي دسولي او دامن او دهر ډول فساد دله منځه وړلو اوداسي نور ډیر موضوعات دي چې باید دښځې له زده کړي نه وړاندي په نظر کي ونیول شي کوم چې دطالبانو اسلامي تحریك پر ځاي کړي دي، دمثلکي په ډول سوله او امن یې قایم کړي، هر ډول شرفساد او فتنه یې له منځه وړي تردي پوري چې دطالبانو په سیموکي به چیري هم چا دملګرو ملتودسازمان په مامورینو تعرض نه وي کړي اونه به یې ددوي مالونه ،موټري تښتولي وي، کوم چې د طالبانو له راتګه مخکي ورځینۍ موضوع وه.

داکتر هول باید وپوهیږي چې دطالبانو داسلامي تحریك مجاهدینو دلوي اومتعال خداي «جل جلاله» په نصرت هغه څه ترسره کړل چې دنړیوال سازمان اداره اوټول مامورین یې له کلونو راهیسي په ترسره کولو کي ناکام پاتي شوي وو ، آیا په هیواد کي دسولي اوامن ټینګول دبشر له حقوقو څخه نه شمیرل کیږي؟ اوایا دجګړو اوفسادونو مخنیوي تولنیز ضرورت نه ګڼل کیږي ؟او آیا دښځي دپت اوعزت ناموس اوشرف خوندي ساتل اودهوس له لیوانو څخه دهغي ژغورل دبشر دحقوقو درناوي نه دي؟ اوپه هیواد کي دخلکو په خوښه دپیاوړي حکومت جوړول دنړیوالو نورمونه په ځاي کول دي اوکه له مینځه وړل؟ خو داکتر هول او دده اداره به هیڅ کله داخبره په منفي انداز کي ځواب نکړي . نوهرګ ته زمونږ پیشنهاد دادي چې دملګرو ملتو داستازي په صفت باید دنوموړي خبري اوقضاوت یوه اړخیز جنبه ونه لري اوهغه دچاخبره چې یوله لوري مې کیده بل یې سرته پراتي لهولي خبره تکرار نکړي اودبشر حقونه یوازي دښځو په زده کړه کي راونه نغاري، داکتر هول که واقعاً دښځو دحقوقو په غم کي مې وي اوواقعاً دښځو دحقوقو په مثبت انداز کي غم ورسره وي، نومعقوله او دیپلوماتیکه لارئي داده چې ړومبي دطالبانو اسلامي دولت په رسمیت وپیژني اوبیا دي په نړیوالو ږغ وکړي ترڅو ددي وران ویجاړ هیواد دبیارغوني لپاره له اسلامي دولت سره هر اړخیزه همکاري وکړي تر څو اسلامي دولت داسلام دمبین دین په رڼا کي اوله ټولنیزو عنعناتو سره سم دښځونو دزده کړي لپاره جلاتښورنځي اوتعلیمي اداري ودانې کړي، خو دهول له ټولو څرګندونو څخه داسي ښکاري چې له اسلامي نظام سره دکلك حساسیت په آساس هسي په اوتو بوتو اوپي ډانه قضاوتونو اوګواښونو غواړي دطالبانو په لاس جوړ شوي اسلامي دولت له خپل اسلامي دریځ څخه منحرف کړي چې داکار به که خداي «ج» کول نوموړي او دنوموړي اداري ته ډیر ګران وي، دا دول ګواښونه زمونږ کړکیچونه نشي حل کولاي اونه مونږ دومره بې هدفه خلك یو چې له خپل اسلامي مسیر څخه د انحراف وکړو وخپله کړنلاره دي بدله کړو هول دملګرو ملتو داستازي او دیوه بې طرفه دیپلومات په حیث هیڅکله ددي حق نه لري چې زمونږ په عقیدوي مقدساتو اوټولنیزوعنعناتو دتیري وکړي. ګنه نو دافغان ټوله سخت عکس العمل سره به مخامخ شي.

SHARIAT WEEKLY
Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C; CD. No.1694-69
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan